

# دوه نابلده مسافر

(ناول)

Ketabton.com

لیکوال: نصیرالحق منتظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم اللّٰه الرحمن الرحیم

کتاب: دوه نابلده مسافر (ناول)
لیکوال: نصیرالحق منتظر
ډیزاین: احمد زیار
نشر کوونکی: پښتو ناولونه..!📚
(ټلیګرام چینل)

## پیل!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ورځ زما په ژوند کې ډيره ځانګړې ورځ وه، نه يکې د خوښۍ ځای و او نه د غمونو، څومره لوی کار مې وکړه، په خپل سر د مور او پلار په نه شتون کې ولاړم ملا مې راوغوښت او يوې ناپيژاند نجلۍ سره مې نکاح وشوه.
هغه نجلۍ يوازې مينې زما ملګرې کړې وه او همدا مينه وه چې زه او هغه يې د خپلو کورنيو پرښودو ته اړ کړو، څومره شپې مو سره په سختو کې تيرې کړې، خو بد قسمتونه د کور نه په تيښته نه بدليږي....
په دې ورځو کې مو د خپلوانو په کور کې دواده خوښي وه زه هم د کور نورو غړو سره هلته تللې وم، کله چې په واده کې خدمتي کسان ټاکل کيدل، زه هم د خدمتي کسانو په ډله کې ونيول شوم.
واده څه په درز کې روان و، نارينه وو ته ډوډوی ورکول شوه او ورسته د ښځو د ډوډې مراسم پيل شول، دوه درې نفرو د ښځو ميلمنو لپاره سترخوانونه راوړل.
دميلمونه ښځو لپاره مو درستخونونه وغوړول بيړه مې وه چې ژر هغوی ته ډوډې ورکړو، ځکه ټولو ښځو سره د ماشومان ډلې راغلي وې او په کور يې يو شور حوړ کړی و.
زه د درسترخوان له غوړولو بې کاره شوم و، غوښتل مې نورو ملګرو ته د ډوډې د راوړو ووايم خو چې سترګې مې پورته کړې په خونه کې هغه کسان نه وو، چې له ماسره راغلي وو.
زما سترګې په يوې ښاپيرۍ ولګيدې نه پوهيږم هغه به له څه وخته زما په تاماشه وه، خو واس چې پرې زما پام شو ، نو هم يې سترګې ښکته نه شوې،
هيڅ نه کيده چې سترګې يوې يا بلې خواته واړوو.
نجلې رانه په راکتلو راکتل لورې غلط کړه هغې هيڅ سترګې نه ښکته کولې، همداسې يې راکتل لکه کومه ورکه چې يې موندلې وې.
په سترګو سترګو کې سره يو پر بل وپوهيدو، په ما باندې له دې امله چې د سترګو په جنګ کې مې له له هماغه لومړې سره زړه زخمي شوې و، لړزه راغله، خو هغې د پخوا په څير خيران خيران راکتل داسې لکه د هغې چې هم سينه کې زړه نه وې پاتې او سترګې ترې بې واکه شوې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ لومړنی ډالی د زړونو ډالی وی، هغی په کتو کتو زما د سینی نه زما وویست ، پوهیدم چی د هغی زړه هم وتلی او زما په وجود کی ځای په ځای شوی دی.
د نجلی سترګی دومر خوږه وی او له جادو ډکی وی، چی بانه یی زما په زړه کی بند کړل، زما زړه یی د خپو سترګو په اوږدو بنو کی بند کړ، د سترګو په اشاره می نجلی ته د بهر تلو وویل، هغی هم څه ونه ویل او په پټه خوله په ما پسی را روانه شوه.
زه مخکی راون شوم او نابلده نجلۍ په یو نابلده مسافر پسی د زړکی په شان په وړو وړو قدمونو را راونه وه،شپه وه او د شپی تیارې زمونږ د نابلده مسافر لپاره پرده جوړه کړې وه، مونږ د شپی په تیاره کی په کوڅه کی چا نه پیژندلو.
زه چی په کوڅه کی لږ وړاندی تللی وم، ودریدم لږه شیبه وروسته هغی زما په اوږه لاس کیښود، دناشنا لاس په لګیدو زما وجود واړزید، زړه می لا په لومړی وار کتو هغی وړی و، که زړه می په سینه کی وای په درزیدو درزیدو به له سینی لویدلی و.
زه د هغی نجلۍ زړه ورتیا ته خیران شوم، هغی سره می له شرمه خبری نه شوی کولی، خو هغه په خپل کلی کور کی ډیره زړوره وه، هغی رانه پوښتنی کولی، مګر ما د نامعلوم ډار له ویر په ټیټ غږخبری کولی او ده هغی د پوښتنی ځواب به می په ډیره کړاو سره ورکاوه.
تر دا وخته ټولی خبری هغی کولی، مه په ډیر زور سره تری د هغی د نوم پوښتنه وکړه:
ته څوک یی او دی واده ته له کومی راغلی یی؟
هغه دومره خوشحله شوه، کله زما د همدی پوښتنی په تمه چی وه، دخندا ورو شور یی راباندی د موسیقی په څیر خوږ ولګید، په توره تیاره کی یی سپینو غاښونو رڼا وکړه ورو یی وویل:
نوم می تنها دی او د واده له کوره څو کوڅی وړاندی می کور دی د واده کورنی مو خپلوان دی ځکه ورته راغلی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د هغی نوری خبری وانه وریده یوازی د هغی نوم می له ځانه سره اخیسته،
تنها ځومره ښکلی نوم دی، خو دا نجلی خو می په تنهایی نه لوریږی.
زه هغی په ښکلی خو په امر یی غږ د تنهایی له سوجونو رابهر شوم،
ته څه له ځانه سره خبری کوی مانه دی زما د نوم او ځای پوښتنه وکړه، مګر تا خو راته نه خپل نوم وښود او نه ځای ...
هو درته وایم یی، هسی زه ستاد نوم په اوریدو په فکر کی شوم..
ولی نوم می دی خوښ نه شو؟
ولی نه، تنها....ځومره خه نوم دی، نوم می دی خوښ شو، خو ته می په تنهایی کی نه خوښیږی.
ښه سمه ده مه ویریږه، زه واس تنها نه یم ته راسره یی کنه.
زه د هغی په دی خبره چی زه واس تنها نه یم ته راسره یی،  له حده ډیر خوشاله شوم، هغی ته می د خپل نوم او کلی په اړه وویل.
نوم می ګلاب دی او
ما لا هغی ته دخپل کلی په څه خبره نه وه کړی، چی هغی د خندا او شوخی نه په ډک اندز غږ کړ.
واه ګلاب ځومره خیرانوونکی ده تا سره بی غیر له دی نوم نه بل نوم نه جوړیږی، فکر کوم د پیدایښت له ورځی  همداسی ښکلی یی، ځکه خو دی د مور او پلار ګلاب نه بل نوم نه دی خوښ شوی او ګلاب ته یی د ګلاب نوم ورګړی دی.
زه په زړه کی ډیره خوشحله وم له دی امله چی زما د خوښی  تنها زه خوښ کړی یم، په جامو کی نه ځاییدم تنها زه د دی خوښۍ اظهار ته نه پریښودم ، پوښتنه یی راځنی وکړه: د کوم ځای یی؟
ما نه چی په دی  وخت کی ځان هیر وه او فکر می نه شو کولی، چی زه چرته او د چا سره ولاړ یم نو هغی ته می وویل.
 اوس خو می کور ستا په سترګو کی دی او خپل د ختو ګوتو کور ځکه اوس نه شم درښودلی، چی زه همدا شیبه له ځانه ورک یم او د ځانه ورک مسافر به د خپل کلی په اړه څه ووایی  تنها خوشحله ښکاریده.تنها راته خپله ټوله کیسه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پلار او مشر ورور يې په وظيفه کې دې پلار يې په مياشت او ورور يې په پنځو مياشتو کې يو ځل کور
ته راځي...ماتنها نه د مکتب په اړه پوښتنه وکړه، هغې وويل مکتب يې په پيښور کې تر شپږم ټولګي پورې لوستلې دی.
تنها وويل، کله چې دالته خپل وطن ته راغلو پلار او ورور مې د مکتب اجازه نه راکول خو زه د مکتب سره ډيره مينه لرم، زما همدا مينه وه چې د لږ سبق په لوسلو سره اوس دا دې په ليک او لوست ښه پوهيږم. هغې ما نه پوښتنه
وکړه،چې زه مکتب وايم،ما هم ورته وويل هو نهم صنف کې يم...زه چې نوی زلمې شوی وم، ډېر په هوا وم، د تنها سره مې ډيره تبه ولګيده، هغې نه مې د مبايل نمبر واخيست او خپل د موبايل نمبر مې ورکړ، په پستو خبرو يې نه مړيدم خو شپه ډيره تيره وه، له تنها مې غوښتنه وکړه چې سهار به سره وګورو، دستې مو سره خدای پامانی وکړه، زه نور لاړم
خجرې ته ډيره ميلمان نور هو ول، شپه ډيره تيره وه ملګرو مې رانه پوښتنه وکړه چې تر اوسه چيرته وې هغوی فکر کاوه چې زه کوره تللی يم.هغوی ته مې بهانه وکړه.
نه بازار ته تللی ومو څه نور ملګری مې ماښام راپسی همدالته راغلی وو، زه هم ورسره لاړم همدا اوس راغلم.
دوی نه مې ځان خلاص کړ د يو شيبه ټوکو ټکالو وروسته هر سړی ته خوب ټالۍ ورکولی هر يو کس ځان ته بستری جوړی کړی او.ويده شول. زه په بستره کې پروت وم، خوب خوب نه و اوپه سوجونو او فکرونه کې راښکيل وم، په سوجونه کې ډوب د شپې ډيره ناوخته ويده شوی وم.
سهار چې ټول لمانځه ته راپورته شوی وو، زه يې هم راجګ کړم، لمونځ مې وکړه نور را باندې ساعت نه تيريده همدا مې ويل، چې اوس ژر لمر را وخيژی چې تنها سره وګورم.
خلکو چا اوبه ديګو ته چلولی چا پياز، الوګان او ټماټر ميده کول، زما زړه هيڅ کار ته نه کيده يو خواته غلی ناست وم، څه وخت تير شو لمر هم خپلې رنګينې وړانګې د ځمکې پر مخ خورې کړی د لمر په راختو ډيره خوشحله شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه د لمر په واړنګو کی ماته د تنها د مخ تصویر
ښکاریده،څه وخت ووت، ځان راته ډیر خوشحله ښکاریده،
ځکه څه وخت وروسته به د تنها سره یو ځای کیږم ،په همدی سوچونه کی وم،
چی موبایل ته می رینګ راغلو.،رینګ می اوچت کړه...
بلی سلام علیکم اوه تنها ته یی؟
خه یی ته سنګه یی؟
ډیره مهربانی، چیرته یی؟
زه په خجره کی یم، ته چیرته یی؟ زه اخواته هغه وچه خوړه چی دی هملته لاړم، ته هم راشه دالته څوک نه وی،ددی خبری سره می مینه او احساسات راوپایدل په تګ نه پوهیدم، د خوړ غاړی ته لاړم تنها یو خواته ناسته وه، زما په انتظار یی یو کاڼی اخستو او بل یی پری ویشتو، چی زما پری نظر ولګیده.
خواته یی ورغلم، تنها سره می روغبړ وکړ، هملته یو څو بیرې ونی وی، ور لاندی کیناستو ښه ډیره ناست وه، یو بل ته مو خپلی ټولی د ژوند ترخی او خوږی واورولی ښی ډیره خبری مو وکړی، تنها ویلی زمونږ په کور کی هیڅوک نشته ټول واده ته تللی دی، دروازی ته قلف پروت دی، زما سره یی کیلی شته راځه لاړ به شو باقی خبری اتری به هلته وکړو زمونږ.کور به هم وګوری او چای به هم درباندی وڅښم.
که څه هم زه بی زړه وم خو تنها ډاډ راکولو چی هیڅوک هلته نشته خو په چکر چکر روان وو تنها مخکی وه زه ورپسی وم دروازی ته ورسیدو تنها دروازه خلاصه دواړه ننوتو ښی لاسته د تنها خپله خصوصی کوټه وه اشاره یی وکړه داسی راځه د تنها کوټه کی کیناستو تنها د چایو او ډوډی په تیارولو بوخته شوه هګی یی پخی کړی ډوډی ته کیناستو تنها به کپه جګه کړه ما ته به یی راکړه زه که څه هم دومره وږی نه.وم خو په ډیره خوند سره می سبا ناری وکړه چای مو وڅښه د چای څښلو نه وروسته می تنها ته وویل ځه چی نور لاړ شوه هسی نه ستسو د کور څوک راشی تنها وویل، هر څوک به خپل کار کوی دا زما کوټه ده، دالته هیڅوک نشی راتللی هغه لکه مینی لیوانی کړی وی تری سو یو نابلده مسافر سره په خپل کور کی یوازی ناسته یی هیڅ خبره نه ګڼله ما هم ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومنله د تنها کوټه هم لکه څنګه چې ما په خپل کور کی ښه ښایسته کوټه درلوده دا هم هماعسی په ډیره خواری جوړه شوی وه، خپل ټول څیزونه او کالی یی په همدی کوټه کی ایښی وو.
د څه ګف شپ وروسته په خبرو کی لګیاوو، چی په همدی وخت دروازه وټګید په ما رپ ولګیده تنها هم ډیره زیاته وارخطاوه، هیڅ مو دلاسه نه کیدل له پښو او لاسو می ساه ووته، خو تنها ښه وه ،بیداره وه، ژر یی له لاسخ ونیولم او په تشناب کی یی حصار کړم دروازه یی راپسی د هغی خوانه بنده کړه وه، تنها دروازی ته لاړه چی ګوری د تنها مشره خور وه کالی یی بدلول خور یی واده شوی وه، خو د دی واده لپاره د پلار کور ته راغلی وه، کالی یی همدالته وو د تنها نه یی پوښتنه کړی وه، چی ولی واده ته نه ده تللې یی تنها هم ورته بهانه کړی وه، چی هلته یی یوانجلی سره جنګ وکړ خو خور یی د ځان سره تنها بیرته د واده کور ته بوتله...
ما پسی دروازه بنده ده په تشناب کی بندی وم زړه می ډیره تنګ وو ډیر زیات ډاریدم چی هسی نه بل څوک راشی او ما وګوری د تنها په موبایل می هم خواری کوله خو زنګ ن ورتلو یو څو شیبی وروسته تنها بیرته کورته راغله دروازه یی خلاصه کړه، ډیره معافی یی رانه وغوښته ویل یی چی که د خور سره می نه وم تللی شکی کیده ځکه یو ځل ورسره لاړم بیرته تری ژر راغلم، زه ډیره حفه وم تنها بیچاره باندی هم مرګ تیر شوی وه، په ډیره وارخطا یی د کوره راووتو، تنها ویلی ګلابه درځه زه وروسته درځم چی څوک پوه نشی.. زه تری راغلم واده ته د ډوډی وخت وه، خدمت ته ودریدم د څوشیبو وروسته د واده مراسم ټول خلاص شول جنج یی راوړو هر سړی د شاوو پلار ته مبارکی ورکوله او نور یی تری اجازه اخیسته هر سړی خپل کور ته تللو خو زما زړه په همدی کلی کی ښکیل وو، زړه می نه کیده چی لاړ شم خو.چاره نه وه تنها ته می زنګ ووهلو، چی زه ځم خپل کلی ته څو وروځی وروسته دی بیا احوال اخلم. هغی وویل سمده ته اوس لاړ شه زه درته بیا زنګ وهم زمونږ.خجری ته به بیا راشی موبایل می بند کړ اوس نو.ما ته هم خدای راکړه هوایی مرغه رانه جوړ شو په درسونه کی قرار قرار تنبل کیدم د درس سره می علاقه ختممیده ټول سوچونه او فکرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

می یواځې همدا وو، چی سنګه او په څه چل به اوس تنها راخپله کړم، زمونږ خپلوان خو هم نه دی مور ته به می په کومه خوله وایم چی تنها باید زما د ژوند ملګری شی په همدی سوجونه کی راښکیل وم په خپل زړه کی ډیر خوشحاله ښکاریدم، نورو.سختیو ته می هیڅ پام نه وو، یواځې د خوشحالی سوچونه به می کول خو د خدای ( ج) او بنده وعده سره هیڅکله هم یو شان نه وی.....

اوس نو زه د تنها د زلفو په فولادی جال کی راګیروم شپه می پخپل کور کی د سوجونه او فکرونو سره تیره کړه سهار چی مکتب ته لاړم په خپله چوکۍ کی ناست وم د درس سره می په نن ورځ هیڅ علاقه نه درلوده د دی نه مخکی می درس په ډیره شوق ویلو خو په نن ورځ د تنها په سوجونه کی ډوب وم ټولګیوال به راته ویلی ګلابه څنګه مخکی خو ډیر شوخ وی، او نن بیښی غلی یی، مریض خو به نه یی؟ ځان سره می ویل چی په زړه کی می ګوتی مه وهۍ خو هغوی ته به می ډیر مکر ویلی هسی سر می درد کوی نن ورځ په همدی خیالونو کی بوخت وم چی اوس ژر مکتب رخصت شی چی د تنها سره د موبایل د لاری خبری وکړم او څو ښکلی خبری یی په زړه کی ثبراته یی ویلی ټوله ورځ می ستا په موبایل خواریکوله خوبند وو، هغی ته می وویل زه په ښوونځی کی وم ځکه می موبایل بند کړی وه، هغی ښایسته ګلالی خبری کولی زما په زړه یی اغیزه کوله په خبرو یی نه مړیدم نوی مینتوب وو، ډیر زیات خوشحله وو، تنها غوښتنه کوله چی نن ماس پښین زمونږ ځای ته راشه په ډیره خوشحلی می ورته وویل تنها تاته خو زه انکار نشم کولای خو زه چی هره ورځ درځم ټول خلک شکی کیږی زه ستا نه ډیر دی ته لیواله یم چی درشم،

خو تنها مخسره او خندا زما د خبری ځواب به راکړ زه خو تا خپل کور کی نه کینوم زه تا خجری ته راغواړم زمونو د کور نه خجر ته دروازه ده زه په همغی دروازه خجری ته ځم تا ته د خجری ته ځم تاته د خجری دروازه خلاضوم هیڅکو مو هلته نه ګوری، خو مار خوړلی د پړی نه هم ډاریږی زه هم په هماغی ورځ ویریدلی وم ځکه می زړه نه ښه کولو، تنها ته می وویل څه سبا یا بل سبا درځم نن لږ مریض یم تبه می ډیره ده، اوس د خدای په امان تنها سره په خبرو خبرو کی کور راورسید اوس نو پر ما یو ثانیه د کال قدر تیریږی، چی سبا ورځ ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشی او زه تنها لیدو ته ورشم د سبا ورځی لپاره می تصمیم داسی ونیولو چی سبا به د کور نه د مکتب په بهانه لاړ شم د وړ وو، په خوړکی به کله په ابادی کی سیلابونه راتلل خو.کله به د پسرلی په موسم د ډیر وخت لپاره رڼی اوبه پکی بهیدی همدی خوړ ته لاړم ښایسته رڼی اوبه په پکیته شور یی کاوه او په خپله یی ژبه یی سرودونه غږول، اوبو نور هیڅ نه ویل، ما به د زړه حالونه همدی اوبو ته ویل او اوبو به د ځان سره ښکته وړل دا کار یی ښه وو، چی چاته به یی زما راز نه افشا کولو د دی اوبو په غاړه می خپل ورځنی پلانونه برابرول او اوبو ته به می ویل پیش کول اوبو به زما د خبرو په ځواب کی د شور ښایسته سرودونه غږول خو زه به پری خوشحاله وم ددي اوبو په غاړه مي د مازدیګر لمونځ وکړ زړه مي نه تري کیده چي لاړ شم د ماښام لمونځ مي هم وکړ همدلته مي ددیري ځای وو دا او فکرو

خوب می ولیده چی د هماغی خوړ په غاړه د اوبو تر څنګ زه او تنها دواړه ناست یو، زه او تنها دواړه وړی تیږی اوبو ته غورځو اوبه چپه وخوری زمونږ د ناستی ځای ته راورسیږی، زه تنها ته ډیکه ورکړم په اوبو کی مستی کوو تنها می دلاسه نیول په اوبو کی ګرځو چی ښه می خوښیږی، زه په خوب تیندک وهلو سره راویښ شوم، په کټ کی نیغ کیناستم په سترګو می مړی اوښکی را رونی شوی ځکه چی تنها نه وه زه ځانته همدلته وم، زړه ته می ډاډ ورکولو چی څه سبا به دی خوب رښتیا شی هسی نه هم د تنها دوی کلی ته ځی، په همدی خبرو می زړه کلک کړ، په دیوال کی ساعت ټکاری کولو، چی بجلی می ورته مخامخ کړه د شپی څه د پاسه دوه بجی وی دا پاتی شپه راباندی ډیره سخته سبا شوه، چی د سهار اذان وشو، پاځیدم جماعت ته لاړم لمونځ می وکړه تلاوت می وکړ، کور ته راغلم چای می وڅښلې لمر راخور شو ،څه وخت ورسته دمکتب دتللو وخت شو، کتابونه می راواخستل پدی بهانه چی مکتب ته ځم د تنها دوی کلی ته لاړم دکلی په بازار کی می څه تازه میوه واخسته، تنها ته می زنګ ووهلو، پوښتنه یی وکړه چیرته یی؟ زه دفلانکی جماعت سره یم درځم ښه سمده ما به تیاره د خجرې دروازه خلاصه کړی وی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

سمده زه نزدی در روان یم کله چی ورسیدم تنها د حجری ور خلاص کړی وه، هغه دروازه چی د کور نه حجر ته تللی وه، هم یی ځان پسی بنده کړی وه، په حجره کی یی سپی تړلی وه، هغی ته یی ډیره ډوډی اچولې وه، د دی خاطره چی سپی ونه غپیږی او څوک پوه نشی سپی په ډوډی ګرم لګیاوو، چی زه حجری ورته ورننوتم سپی وغوریدو خو تنها ورته زر کوچی کوچی وویل، بیرته پخپله ډوډی لګیا شو، ما هم د ځان سره میوه را اخستی وه، چی ما او تنها یی وخورو، په حجره کی دننه په یو کونج کی په ډار ناست وو، میوه مو یو بل ته ور جړه، ډیر خوند یی وکړ، ډیر وخت مو.تیر کړ، ډیر خبری او مشوری مو سره وکړې د هغی ورځی بحث مو هم وکړ، چی د واده په ورځ تنها زه په تشناب کی اچولی وم، داوړو ډیر زیات وخندل خوا وشا د ورځی یولس بجی وی نور می ورنه اجازه وعوښته ځکه چی مونږه هم ویریدو، د تنها زړه نه وو، چی تری لاړ شم خو مجبوریت وو ډیر وخت مو هلته تیر کړ، زه تری روان شون تنها دروازه راپسی بنده کړه، زه را روان شوم ډیره خوشحله وم او تنها چی د حجرې نه تللی وه، کورته بهانه یی دا کړې وه، چی حجره می جارو کړه، حویلۍ ډیره می جارو کړه ځان یی په همدی بهانه خلاص کړی وو، مور یی پری معمولی غوندی شکې وه، خو تنها پری ځان نه پوهاوه،....

یوه ورځ د بده بخته تنها موبایل په کور کی پاتی وو، هغه چرته تللی وه، ما یی موبایل ته زنګ ووهلو، موبایل د تنها مور اوچت کړی وو، ما ته وایی ته څوک یی؟

ما ویل ګلاب یم، کوم ګلاب یی؟ ولی ودی نه پیژندم ... ته څوک یی؟ پوه شوم چی موبایل بل چا اوچت کړی، ژر می مو بایل بند کړ، روان وم هماغه خوږ ته چی زما او د تنها راز به ما ورسره شریکولو، ورسره کیناستم په همدی سوچ کی وم چی دا موبایل به چا اوچت کړی وی.

په همدی سوچ کی ډوب وم یو څه وخت تیر شوی وو، چی د تنها د موبایل نه زنګ راغلو زنګ می اوچت کړ، خو ما خبری نه کولی تر څو چی ښه مطمین شوم چی تنها پخپله ده بیا می ورسره خبری شروع کړی....

وایه تنها سنګه یی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه یم ... ته سنګه یی؟ وختی تا زنګ راوهلی وو؟
هو ما زنګ در وهلی وو....
تو کل په خدای مور می موبایل را اخستی وو، چی هر څه وشول راته یی ویل ګلاب ځوک دی؟ ستا موبایل ته یی زنګ راوهلی و، ستا پوښتنه یی کوله، ما ورته په وار خطا یی وویل ګلاب....ګلاب خو زه نه پیژنم خدای خبر چی ځوک دی نمبر به یی غلط کړی وی، نور می مور هم څه ونه ویل چی هر څه وشول ما او تنها سره یو شیبه خبری وکړې، نو مو مرکه بس کړه.
د همدی ورځی نه یی مور په تنها شکی شوه، څارنه به یی ورپسی کوله هره ورځ به یی مور ورته ډیری خبری کولی، خو تنها پری هیڅ پروانه کوله، بی پراوبه وه، ځکه چی هغه ډیره شوخه او زړوره انجلۍ وه، هیڅ کله به یی هم زما په مخ کی بی زړه خبره نه کوله، خوکله چی تنها پوهه شوه، چی مور یی ورپسی پیره او څارنه کوی چی حجری ته به د څه لپاره لاړه مور به هم ورپسی، په څه بهانه به تله، ځکه خو تنها هم اوس پام کوی، ځو ورځی یی ورپسی څارنه وکړه.
زه خو به هم هره ورځ نه ورتلم، د دی نه بعد به کله هفته کی یا میاشت ورتلم هغه به هم په داسی ورځ چی مور به یی چیرته تللی وه، د لږ وخت لپاره به می د تنها سره کتل څه وخت تیر شو، خو مور یی په تنها هیڅ شی هم ثبوت نه کړ، په دی ورځو کی یی څه ناڅه اشتباه د مور کمه شوی وه، شپی او ورځی تیریدی د درسونو شوق می زړه نه په ووتو وو، زمونږ.څلورم نیم میاشتنی امتخانونه رانزدی شول د لیسی مدیر صاحب به هره ورځ د قطار په سر په لوډ سپیکر کی ویل چی امتخانونه رانزدی شول خپل درسونه ښه زده کړی، تر ځو پا امتخان کی ښه نمرو کامیاب شی خو زما پرواهم نه وه، خرابه ځکه زما ټول سوچ او فکر د تنها لور ته وو، بی پروا به مکتب ته تللم بیرته به راتللو تر دی د مخه به می داسی درس ویلو چی د شپی به می په کتاب سر ایښی وه، او ویده به وم..
چراغ به رانه بل پاتی وو، په مکتب کی به می داستاذانو نه دومر پوښتنه کولی چی د ټول صنف مه می ځانته اړولی وو، خو اوس هغه مزی نشته چی سبق ووایم اوس د شپی د تنها په سوجونو کی ویده کیږم ځو شپی او ورځی تیری شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ورځ هم راورسیده چی مدیر صاحب به روزانه دا سمبلۍ قطار په سر لګیاوو، چی ډیر سخت امتحان دی، خارجی هیت به راځی په شاګردانو به ګرځی نقل ته به څوک نه پریږدی او..
سهار کی متکب ته را روان وم هر هلک کتاب مخی ته نیول ما دتنها سره په موبایل کی خبری کولی موبایل می غوږ ته نیولی دی د هر سړی همدا ماته پام دی چی ده به ټوله شپه مطالعه کړی وی، خو د خقیقت نه یواځی خدای خبر وو چی ما څه او څه د شأی په کور کی کړی..
څه وخت وروسته قطارونه کیناستل د پخوا په څیر ترانه وویل شوه، مدیر صاحب خپلو خبرو ته دوام ورکړه، په یو توره تخته چی د سټیډ په سر ایښی وه، پری لیکل شوی وو، { نقل کوونکی او نقل ورکوونکی دواړه مطلق ناکام دی].
مدیر صاحب هم د همدی خبری تکرار کولو چی هیڅوک هم باید نقل ونه کړی، وخت تیر شو، او له ورځ امتحان مو د جغرافیی وو، امتخان ته کیناستو خو چندان خونده می نه وه، ځکه چی درس می نه وو، تکرار کړی، امتخانونه روان وو، ما به چی څه پخوا په مغزو کی ول ورته لیکلی ول ګنی نوی می څه شی نه.وه زده کړی..
عبث عبث به ګرځیدم پنځلس ورځی امتخانونه وو، تیر شول ..لس ورځی چوټی یی مونږ ته راکړه، په ځای د دی چی درسونه پکی ووایم سوچه پکی بی لاری شوم څه وخت چی یی نتایج اعلان شول په ځای د دی چی ځو نمبری مخکی راشم د څلورمی نمبرې نه پنځلسمی نمبرې ته اورځیدلی وم . د هر هلک او معلم توجه ماته وه، چی ولی ګلابه مونږ خو.ویلی ته ډیره خواری کوی اول نمره ګی نیسی هو سوچه وروسته لاړی د خولی نه می خبره نه راوتلی . خپه راغلم کورته خو سره د دی چی پخپلو سترګو می ولیدل بیا می هم درسونه نه ویل..
اوس خو.می بیخی د مکتب نه زړه موړ شوی وو، خو.وختونه تیریدل مکتبونه بیرته شروع شول، هر سړی به مکتب ته په شوق را روان وو، زه به چی مکتب ته راتلم لکه بندخانی ته به چی راتللم، هره ورځ به په تفریح کی تبنتیدم، زما یو بل ملګری وو، چی عبدالله نومیده هغه به هم راسره کور ته تللو ما خپل راز همده سره شریک کړ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره ورځ به ناوخته مکتب ته راتللو او.وختی به تللو تنبلی مو ډیره زیاته شوه، همدا ورځی ډیرې په تیزۍ سره روانی وی زما پلار یوه ورځ یو موټر واخیست، زما موټر زده وو، ځکه تر دی دمخه مو یو بل موټر وه، په همعغی می زده کړی وو، ډیر وخت تیر شو، چی تنها سره می لیدل نه وو، شوی ښه می وګڼله چی او زنګ می ورته ووهلو، د موټر نه می خبره کړه، هغی راته ویلی ډیره ښه ده خو په خندا یی وویل ما به پکی چکر ته کله بوځی؟
ما ورته ویلی شییرینی موټر ستا په خدمت کی دی ته خالی ووایه زه دی چی هر خواته ځی وړم دې.
تنها نور هم وخندل ویل یی هسی ټوکه می درسره وکړه، موټر دی خدای مبارک کړه خدای دی په تا پیروز کړی نور مو سره خبری بس کړی، موبایل بند شو..
یو.ورځ د خوړ په غاړه ناست وم د اوبو سره په خبرو بوخت وم، کاغذ به می لیکو او په اوبو.کی به می خوشی کولو اوبو ته به می ویلی داخط به تنها ته ورکړی، او زیری به پری وکړی چی یو څو ورځی وروسته ځو چکر ته.....
ما به همداسی خطونه لیکل او اوبو ته به می خوشی کول، خو اوبو به چی خط دځان سره ویوړو هلته به یی وشکو، ځکه کاغذ چی لوند شی خپله شکیږ.ی...
زما نه عقل الوتیوو، ما به هر ورځ همداسی خطونه اوبو ته غورځول خو په نتیجه یی نه پوهیدم بله ورځ می خط په اوبو کی خوشی کړ، چی یو ځای پوری ورسره لاړم خط یی توکړی توکړی کړو ما پخپلو سترګو ولیدل سره د هغی می بیا هم خطونه اوبو ته ور خوشی کول....
یوه ورځ می د موټر د سلف لینونه وشکول چی بهانه می جوړه شی چی موټر د کوره وباسم سهار کی موټر نه چالانیدو په ټیلو ټیلو مو چلان کړ، چی سړک ته راووتم هغه ویرنګ تارونه چی ماشکولی وو، بیرته می سره وتړل روان شوم دا خبره می نیغه په زړه ولاړه وه، چی تنها راته ویلی ما به کله په موټر کی چکر ته بوځی.
په همدی سوچ کی په پاخه سړک روان وم د جیب نه می مو بایل را وویست، تنها ته می زنګ ووهلو بل تنها چیرته یی؟
زه خو په کور کی یم؟ ته چرته یی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ستاسی کلی ته در روان یم موټر هم راسره دی غواړم چی لاړ شو.چکر ته، تنها زړه نا زړه شوه، په ډیره عاجزئ یی وویل ..ګلاب زما نه نهتیریږی... هسی نه مور می راباندی پوه شی اوس هم شکی ده رابندی، هر وخت راته په نیمه نیمه خبری کوی، نوره دی خوښه خپله....
ما ورته وویل، تنها راځه څه بهانه وکړه، زما ډیر زړه خفه دی چی لاړ شو نن می تیار د کورنه موټر راویستی دی، بیا به څه بهانه کوم، ته څه بهانه وکړه...
ضـــــــــــرور راشه ښـــــــه
ځه زه درته وروسته زنګ وهم که څه بهانه می جوړه کړه دربه شم سمده....
کوشش وکړه، موبایل یی بند کړ، ما هم موټر په مزه مزه را وران کړی وو، ښی لاسته یو د تیلو پمپ وو، په پمپ کی سروس سټیشن [موټر شویی] وه، موټر می همدی موټر شویی ته راتاو کړ، زما خیال او فکر ټول همدی ته وو، چی اوس تنها زنګ راووهی هسی نه چی انکار وکړی یا یی کومه بهانه نه وی جوړه کړی.
فکرونه می سره تاویدل، سروس والا موټر صفا کولو زه یو څنګ ته په سوچ کی تللی وم چی زنګ راغی ..تنهاوه، ویی ویل ګلابه چیرته یی؟
زه په فلانکی پمپ کی یم، ښه ژر راځه د کلی منځ ته مه راځه کلیوال پو هیږی، زه د سرک سرته درځم، زما پوره تبه جوړه کړه، موټر یی څه نا څه پاک کړی وو، خو په ځان نه پوهیدم را ورن شوم په پاخه سړک می لږ.مزل وکړ، چی د تنها دو کلی ته راورسیدم د سړک په غاړه می موټر ودراوه، تری کوز شوم، پدی بهانه چی موټر خراب دی د موټر بانټ می جګ کړ،.... په انجن کی می یو شی او بل شی ته لاس اچولو لکه رښتیا چی خراب وی، چی په دی وخت کی د تنها زنګ راغلو، ژر راځه زه په هغه کوز ځای کی ولاړه یم...
بیرته می بانټ ښکته کړ، موټر می چلان کړ، په سړک روان یم چپ لاسته ګورم چی تنها به په کوم ځای کی ولاړه وی ، لږ.مخکی چی لاړم چی کتل می تنها دونو په نمځ کی ولاړه وه، هارند می ورته ووهلو د تنها پام ما ته شو، چی سړک ته یی راوکتل چلاکه موټر ته راپورته شوه،..

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنها په موټر کې په پټ مخ په ویره ناسته ښکاریده سترې مع شی مو سره وکړل، موټر ته مې حرکت ورکړ، زه ډیر زیات خوشحله ښکاریدم په ډیره مینه مې ورسره خبرې کولې، خو تنها داسې لږ خفه غوندې وه، ځکه چې کورنه پټه راغلې وه، ښتیسته سور کمیس یې زما ټول پام تنها ته اولې وو، ځو ځله به تنها راته ویلې سړک ته ګوره چې موټر بې لارې نه شي مګر زه د تنها کتلو نه مړیدم ډیر زیات به مې ورته کتل، لکه خوب چې وینم ځکه چې تنها راسره په سیټ کې خوا په خوا ناسته وه، تنها لږ.خفه غوندې وه، پوښتنه مې ترې وکړه، ته ولې خفه یې تنها په موسکه وویلې ګلابه ته د چا د حاله څه خبر یې کع راغلې نه.وم ته خفه کیدې..

او زما خو په دې ټوله دونیا کې همدایو ګلاب دې هرشې راته ګلاب ښکارې خو د مور نه مې هم ویرېږم د مورنه مې اجازه په دې بهانه واخیسته چې کلینک ته ځم داور ځانته اخلم ، مور ته به مې څه وایم که هغه رانه پوښتنه وکړې، چې دارو دې څه کړل؟ نسخه دې څه کړه؟ څه وخت تللې وې او څه وخت بیرته راغلې؟

زه نه پوهیږم زه به دهغې د دومره ډیرو پوښتنو جواب څنګه ورکوم د هغې پو ښتنې خو به ما لیوانې کړې..

ته خو ګلابه مزې کوه پخپل سر د کوره وځه د مکتب په بهانه هلک یې هر څه دې لاسه کیږې زمونږ دا نجونو خو د راوج، دود او دستور په ځنځیرونو کې ژوند دې، نه چرته تللې شو او نه د خپلې خوښې خبره کولاې شو، نن مې هم ترینه په ډیر مکر بهانه اجازه را واخیسته د دې خبرو په اوریدو سره ډیر زیات پخپلو مخکې خبرو چې ما تنها ته مې په موبایل کې وویل، چې ضرو نن راشه پښیمانه وم ، تنها ته مې ډاډ ګیرنه ورکړه، چې مور ته دې وایه کلینک کې دوا نه وه، زع بل ډاکټر ته للې وم تنها ویلې ځه دومره یې غم مه کوه څه بهانه به ورته وکړم.

څو شیبې وروسته جلاباد ښار ته ورسیدو، په ښار کې ډیر پارکونه او د تفریح ځایونه موجود وو، خو لاړم امیر شهید باغ ته ډیر زیات پکې وګرځیدو په پارک کې مو ښه چکر ووهلو څنګه چې مو غوښتل چې تنها به دلاسه نیسم او په پارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کی به ګرځو هماغسی ښایسته ښکلی چکر مو ووهلو د یادګار لپاره مو ښایسته منظرو او مونږ.خپل تصویرونه هم د ښکلو منظرو سره وښکل ښه چکر مو ووهلو سترړی شو یو.چوکی دوه نفری چی مخی ته یی سمیټی میز هم په ځمکه کی لګیدلی وو، پکی کیناستو.

د ناشتی لپاره مو څه خوارک راوړ خوراک مو وکړ، تنها ته می ویل ځه چی لاړ شو درونټی ته هلته به د غرمی ډوډی وخورو ښایسته د سیال ځای دی هلته به هم چکر ووهو خو تنها غوښتل چی کورته لاړ شو، ځکه هغه بیچاره خو د مور نه ویریده، خو ما وربآندی پینګار وکړ، چی بیا به کله دلته راځو خدای خبر ځوک به مورا پریږدی که نه نن تیاره موقع ده باید تری اسفاده وکړو.....

تنها راسره ومنله موټر مو روان کړ، تیز روان وم، تنها به می په ولی لاس کیښود.. ګلابه په مزه مزه ځه چی بازار دی ګڼه ګونه ډیره ده چرته یی ټکر نه کړی ومی منله په احتیاط سره روان شوم د جدایی خبری مو یو بل ته کولی، کومه جدایی چی د نن نه مخکی مونږ تیره کړی وه، لږ ساعت وروسته درونټی ته ورسیدو، تنها د درونټی نوم اوریدلی وو، ځکه مشهور ځای وو، مونږ به کله کله دا انډیولانو سره په اخترونو او یا به مو.چی د کوم ملګری واده وو، شاوو به مو هم د ځان سره راوستلو ډیری میلی به مو کولی..

د زنانه وو، جدا پارک وو، هغی ته به یی نارینه بغیر د زنانه وه پولیسو نه پریښودل همدا می ارمان وو، چی کله به زما سره یوه د تبې انجلیۍ وی، چی پارک ته ورسره یو ځای ننوځم، نن هماغه ورځ هم رارسیدلی وه، د ځوانانو پارک ته می موټر را تاو.کړ، یو طرف ته می ودرولو زه او تنها تری را کوز شو....

خیر خیرمی یادو چی کوم بلدی می ونه ګوری ځکه دالته اکثر زمونږ کلیوال ډلی ډلی د ماهیانو د خوراک لپاره راتلل د دی ځای ډیره مشهور ماهیان وو، مونږ څه نا څه ماړه هم وو، خو غوښتل می چی لومړی چکر ووهو، بیا به ماهیان وخورو، ځو یخی بوتلی می را واخستی، پارک ته را وران شو هغی پارک ته چی زما د ارمانونه یو ارمان وو، اوس خو تنها راسره وه، ښه نیشه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ننوتم ښی لاسته د اوبو یوه براچاوه، وه، چی ډیره ښکلی منظر یی جوړه کړی وه،
تنها ته می ټول ځایونه وښودل پارک وړوکی و، خو دیره ښکلی وه، ښایسته منظر یکی وی په پارک کی یواځی هغه نارینه وو چی د زنانوه سره را ننوتی وو، دونی لاندی چوکۍ پرته وه، یوه ښه شیبه یکی کیناستو خواو شا مو سیال وکړو، د تنها په مخ راته ډیره خوشحالی ښکاریده وروسته مو سره مشوره وکړه، روان شو، بیرون راووتو راغللو تنها ته می ویلی ماهیان به خورو نور به همداسی نزدی په رینګ روډ ووځو دلته په دی بل پارک کی کرایی خونی وی..
د هو ټل له خاندوه.مو یوه خونه ونیوه، د ننه یکی څوک نه ښکاریدل خو د باندی تری هر څه ښکاریدل یوه خونه کی کیناستو یو.کوچنی ماشوم چی د هو ټل شاګرد وو، څو وریی می ورکړې ډیره خوشحلع شو هر شی به یی مونږ ته راوړلو...اوبه یی راوړی چی هر قسمه مسالی راوړې صفا د سترخوان یی راوړو، توده ډوډی لاس وچی هر څه یی مکمل راوړل ډیر پام یی پر مونږ کاوه، چی ماهیان پاخه شول سلات چکنی ...لیمو.. هر څه یی ورسره راوړل بوتلی مو پری حواله کړی یخی بوتلی یی راوړی ډیر زیات په خوند مو ډوډی وخوړه ما به کبانونه لشکی پاکی کړی بیا به می تنها ته خولی کی ورکړل، تنها به کپه ما ته خوله کی راکړه د ډیر خوند نه په ځان نه وو، یوه شوی..
ډیره زیاته ډوډی مو وخوړه د ماسپیښن اذانونه شروع شول، مونږ را وران شو، د هو ټل خاوند تع می پیسی ورکړی، موټر مو چالان کړ، په ډیری تادۍ را وران وو، زه خو شحله وم ټول تیر شوی غمونه می د پښو لاندی کړل او خوشحالی می را برسیره شوه، د خوشحالۍ نه په ځانه نه پوهیدم چی په کم رقم را وران وم،....
همدومره به پوهیدم چی تنها به راته ویلی ګلابه لږ په کراره ځه چی خوشحالۍ مو په خفګان دله نشی ډیره وخت لانه وتیر شوی چی د تنها دوی کلی ته را ورسیدو ځکه مونږ.نزیدی په رینګ روډ باندی د غټو موټرو په لاره راغلو، په هماغه ځای کی چی تنها سهار ولاړه وه ښکته شوه،..

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنها غوښتل چی همدلته یی ښکته کړم.، هغه ویریده چی څوک پری ونه پوهیږی کنه ما غوښتل هغه تر کوره ورسوم خو د هغی خبره صحی وه بیا خلکو کته خو د بده مرغه مونږ چی هر څومره کوشش کولو هماغومر رسواشو....
مونږ یو چا په امیر شهیدباغ کی کتلی وو، چی هغه د تنها کلیوال وو، او څه نا څه خپلوان یی هم وو، یو خدای په غیبو خبر دی مونږ څه خبرو چی کوم هلک کتلی وو، تنها د ګاډی نه ښکته شوه، یو شیبه می ورپسی کتل خو نور خپل جلب ته متوجی شوم...
را روان وم ټول عمر خوشحالی می په همدی یوه ورځ سره راټوله شوی وه، ډیره زیات خوشحله ښکاریدم ځانته روان وم، د تنها سیټ ته به می چی وکتل خالی به وو، ځکه.چی تنها خو تری کیوتی وه، د خوشحالی په سوچ کی تللی وم خیال می بل خواته وړی وم چی د کورنه زنګ راغی..
چرته یی؟ ما ورلنډه کړه.... نژدی در روان یم، په شلو دقیقو کی در رسیږم موبایل می پری قطعه کړ، مشر ورور می وو، ما ته یی سوداوه، موټر جوړ وو، هماغه لینونه چی مه خطا کړی ول بیرته چی څنګه سرک ته راووتم ومی تړل موټر جوړ شو، کور مو را نژدی شو د پاخه سړکه ور کوز شوم د کور په طرف روان شوم، چی کور ته ورسیدم مور می د غرمی د ډوډی پوښتنه رانه وکړه، مور ته می ویلی ډوډی می په بازار کی وخوړه.....
وروږمی د موټر پوښتنه وکړه څه پکی خراب ول ما ورته ویلی سلف یی جام شوی وو، جوړه می کړ، وروږمی می کیلی واخیسته ګاډی یی چالان کړ، نور یی څه ونه ویل ما یو پیاله چای وڅښه د ماسپښین لمونځ هم نور قضا کیده ژر ژر می اودس لمونځ وکړ.
د خوشحالئ نه ځمکه ځای نه راکوی کله یو ځای ته لاړ شم کله بل ځای ته اخر لاړم خپله کوټه کی څملاستم خو خوب نه راځی په کټ کی اړخ په اړخ اوړم نه خوب رتلو او نه می زړه د کټ نه کیدو نها یی ډیر خوشحله وم هیڅوک نه وو، چی د خپل زړه راز ور سره شریک کړم چی دا زړه می تش شی هغه ملګری می هم راسره نژدی نه وو، چی هره ورځ به دمکتب نه راتښتیدو او د زړه راز به می ورته ویلی یو.می همدا ملګری او بل می اوبه ملګری وی ی راز به می

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ویلو، خو د غبدالله نه به ما اوبه ته ډیر حالونه ویل ځکه چی اوبو چا ته نه
ویل خو په عبدالله می اعتماد نه درلود ځکه انسان دی یوه ورځ نه یوه ورځ به یی
افشا کوی، لاړم هماغه خوړ ته په خوړ کی اوبه ښی مستی روانی وی د
خوشحالی نه می یو تیره چغه وکړه او ابو ته په خبرو شروع شوم اوبو زما د
عمل عکس العمل ونه ښودلو ما به اوبو ته ویلی ای بی وفا اوبو تا خو یوه خط هم
تنها ته نه دی ورسولی ما خو تری تپوس وکړو زما نن تبه ډیره خوشحله ده ته
راته تپوس هم نه کوی چی ځنګه دومره خوشحاله یی خو زه به درته ووایم زه او
تنها تللی وو چکر ته امیر شهید باغ ته هلته مو ټالونه وخوړل ښه چکر مو پکی
ووهلی د هغی نه بعد لاړو دورنټی ته خو ټوله کیسه می شروع کړی وه، ځکه
تنها خو نن زما په زړه کی یو غټه مانی ځانته جوړه کړی په ننی امتحان کی تنها
زما سره په پوره نمبرو کامیابه شوه ما د تنها وفا او عیرت ټول معلوم کړل ډیر
زیات ورنه خوشحاله شوم د احسان به یی هیڅکه هیر نه کړم چی اوس می سر د
تنها په مینه کی د تنی نه پری کوی ورته تیار یم اوس نو زه پوره پوره د تنها د
مینی احترام کوم خو د تنها بیچاره د حال نه خبر نه یم چی موو ظالمه یی
وروباندی څومر ظلم کوی په خپله خوشالۍ ډیر خوشحله یم
غمونه په نن ورځ ګډه کړی وه ځکه دا خو ما ته ډیره غټه خبره وه چی تنها را
سره یو ځای په پارک کی ګرځیده په همدی سوجونو او فکرونه کی ښه ډوب وم
چی تنها زنګ راغلو...... په ډیره مینه می سلام وویلی خبری شروع شوی تنها
سخت فریاد او ژړا کوله لکه دا نن چی می هسی خوب ولیدو بیرته یی زما
خوشحالی د پښو لاندی کړه، تنها یی مور ډیره وهلی وه، ډیری سپکی سژوری
یی خپلی مورته کولی ما ورته ډاډ ګیرنه ورکوله زما هم زړه نه ټینګیدو د سترګو
نه می بی واره اوښکی روانی وی دا ټوله ګناه زما وه، ځکه چی ما تنها ته ویل
چی راشی.. تنها خو زما د خفګان په خاطر دا هر څه په طر واخستل د مور وهل
بی غزته کول بدنامی دا هر څه زما دلاسه تنها ته ورسیدل د دی ټوله ملامتی زما
ده اوس به څنګه د تنها طره ګورم ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خو د تنها سره ډیر ظلم وکړ، ته زما سره ضرور وګوره ما ویل څه ټیم اوس درشم نه په دی توره شپه کی سبا ته به د خیره سره ضرور زما سره ګوری که نا نو دواړع به د ډیری سختی سزا سره مخامخ شو....

د دی خبری د اوریدو سره می زړه نور هم خوی شو، اوښکی هم زما په واک کی نه وی زما په مخ داسی روانی وی لکه دریاب...

د تنها سره می خبری بس کړې زړه می نه صبریده نزدی وو، چی همدلته غورځیدلی وم، خو ځان می کلک کړ، تنها می تسرګو سترګو ته کیده خپله می هم ژړا ته زور ور کړ، خو هیڅ فائده یی راته نه کوله هر څومره به می چی د ننی خوشحالی سترګو ته ودروله بیرته به می د ځان سره ویلی نه نن مونږ ربښتیا چکر ته نه ووتللی هغه می خوب لیدلی دی هغه په همدی نن ورځ ختمه شوه ځکه ټوله همدا نن ورځ را ټوله شوی وه، او ختمه شوه، نور بغیر د غمه هیڅ هم زما په زړه کی ځای نشی نیولی....

فکر او سوچ می ډیر ډوب وو، په دی سوچ کی وم چی ما ته به تنها څه وایی هسی نه چی هلته یی راته څوک یوه کړی وی، او بل څه لانجه راته جوړه نشی بیا به د تنها غیرت زما سوچ بدل کړو، چی هغه هیڅکله هم داسی کار نه کوی څنګه به تنها ته وایم چی نه درځم هغی زما په سر څومره تکلیفونه وګالل که د تنها په پانسی شم هم ورځم که همدا واس ووایی هم ورځم سوچونه او فکرونه ډیریدل، زړه می کمزوری وو، ما خپل ځان د سوچونه په مقابل کی ډیر کمزوری ګڼلی وو، په همدی سوچونه کی وم، که لاړ شم هسی نه چی رسوایی جوړه شی ځکه د تنها مور خو هسی نه هم خبره ده او که نه ځم تنها ته هم نشم ویلی چی نه درځم... څه وخت وروسته کورته راورسیدم پلار او.مور می راته په غصه ول چی د شپی څله دومره ناوخته ګرځی څه کار دی دی دا ټیم د راتګ دی چی ته راغلی دا څو شپی ته کور ته ډیر ناوخته راځی سر می ټیټ نیولی وو د پلار او.مور د خبرو په مقابل کی می هیڅ ویل ځکه هغوی ښې خبری کولی خو زما هم څه چاره نه.وه، د پلار او مور دا عصی پټکی می هر څه تیر کړل زړه می دیر نازک وو، نزدی وو، چی ورته په ژړا شوی وم،..........

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زړه می کلک کړ، مور می ډوډۍ را واچوله هیڅ می شوق ته نه کیده خو د مور او پلار د خاطره می څو کپه وخوړه لاړم خپلی کوټی ته په کټ کی پریوتم خوب به چا ته ورشی او سوچونه به د چا نه لری شی ښه اوس څه کوی د تنها دوی حجر ته هم نشی تللی او.که لاړ شی نو کیده شی ګیر شی کله به می داسی ناوړه سوچ مخی ته راغللو هسی نه چی تنها راته خپله کورنۍ پویه کړی وی او په چل کی می د دی ځای نه غواړی بیا می د تنها غیرت او پښتو سترګو ته ودریده... نه تنها زما مینه ده هغه دومره ظالمه نه ده لکه ما چی ورسره ظلم وکړ، همدغی د سوچونو لړۍ د شپی د څه د پاسه یوی بجی پوره ویخ پاتی کړی وم لړنزدی وو، چی د سوچونو د لاسه می د زړه چاودیدلی وو، او یا می د اعصابو رګونه شلیدلی ول.....
خو هیڅ می نشو کولای بی احطیاره پروت وم ګرایوان می د اوښکو د لاسه لوندوو، چی چیرته می خیال او سوچ وړی زه ورسره روان یم ځکه خلاصون می تری نه وو، تنها می خیال کی نیغه سترګو ته ولاړه وه ډیره زیات یی ژړل ما بی احطیاره چغه کړه، هغی سره می د خیال او سوچ ښاپیرۍ..
وتښتیده او خقیقت دونیا ته راغلم ښه وو، شپه ډیره تیره وه، ځکه خو می چغه هم چا نه وه، اوریدلی.. د دی نه وروسته څه ټیم ویده شوی وم، سهار چی پاڅیدم لمونځ می وکړ، دلمانځه وروسته بیرته ویده شوم، ځکه ټوله شپه می شوګیر کړی وه،څه وخت تیر شوی وه، زما سرتګی سره ورغلی وی چی تنها زنګ راووهلو بلی سلام علیکم ګلابه ته راځی ما ویل خوښه ستا ده که ته وی چی راشه درځم که وی مه راځه نه درځم زه ستا په مخ کی ترلی چرګ یم تنها ویلی راځی خوبه ضرور چی رتللی په هماغی ټیم کی ما ته زنګ ووهه زه بیا یو.مشوره در کوم څه صحی شو زه چی در روان شوم بیا درته زنګ وهم بیرته می سر په کمبله کی تا وکړو ویده شوم لمر راختلی وو، چی مور می دروازه وډبوله... ګلابه پاڅه سبا ناری وکړه.... بی له ویلو پورته شوم ښه اوس څه کوی هلته تنها په طمع هلته مکتب ته پرون هم نه یم تللی چی پلار می خبر نشی مکتب هو هسی هم نه وایم خو د پلار د خاطره می ځم چی هغه راته غصه کیږی چای څکلو ته کیناسم خو سوچونو نه پریښودم چای می وڅښو داسی فیصله می د زړه قاضی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه چی که مرګ هم وی نن ورته تیار یم د تنها په سر کتابونه می را واخستل ویښتان می جوړ کړه د مکتب لباس می واغوستلو خپل فیشن می برابر کړ روان شوم د مکتب په مکتب زمونږ د کور پاس ( بره) وو، او دتنها دوی کور ښکته وو، زه یو څه بره لاړم بیرته د خپل کورنه ببچ د تنها دوی کور په لور د خوړ غاړی ته ووتم د اوبو سره څنګ کی روان وم،...

اوبو سره می مرکه شروع کړه دا تنها به زما سره څه ضروری کاروی چی داسی عجل یی غوښتی یم اوبو هیڅ نه.ویلی یواځی شړهاړی یی کولو زما ورطره ساعت تیروو، همدا خوړ د تنها دوی په کلی وتی وو، ځکع زه هم ورسره روان وم څه وخت وروسته لږه لاره د تنها دوی کلی ته پاتی شوه... زنګ می ورته ووهلو چی زه په خوړ کی ناست یم څنګه چل وکړم.... تنها ویلی په خوړ کی څه کوی د حجر ور خلاص دی ته راشه غلی په حجره کی کینه چی راورسیدی مسکال وکړی زه هم درځم د ځان أسی د حجری وربند کړه...

په ویره روان وم چی حجر ته راورسیدم ورمی ورډیکه کړ، خلاص وو چی ننوتم سپی ډیره بده ورځ شروع کړه ژرمی د حجری ور د ځان بسی بند کړ نور لاړم پټ حجره کی په ډیره ویره کیناستم... سپی هماغی غپل تنها ته می میسکال ورکړ، تنها لږ وخت وروسته پدی بهانه چی کورنه سپی ته ډوډئ راووړی راغله سپی ته یی ډوډئ واچوله د سپی خوله بنده شوه، چی کوټی ته راننوته زړه می ډیر درزیدو نن تنها هم ډیره خپه وه رنګ یی تک ژیړ وو پر مخ کی یی سرخی نه ښکاریده ما ویل ولی دا په ته څه شوی ما ته یی د خپل بدن ټپونه راوښول ټول بدن یی تغمی وه، ټول ځان یی تک شین اغوښتی وو، د ډیرو وهلو دلاسه زما یی زړه وبریښول د زړه نه می یی یو الله خبر وو، بی اخطیاره اسویلی می کول دا ټول زما دلاسه کنله زما وه، وهل پری تا خواری وخوړل دا ټول زما جرم دی که ما تا ته نه وه ویلی ولی به نن ته پدی حال وی دا زما ګیلی لانجی تیری شوی مور یی پلار ته هم زنګ وهلی وه، دجمغی په ورځ می پلار هم راته هغه ډیر ظلم سړی وو، تنها یی د پلار نه ډیره ویریده... تنها ته می ویلی تا زه ځع ته راغوښتی یم تنها غلی وه مل ورته ویلی وایه چی هر څه وایه چی هر څه وی که زما د سر خطر هم پکی وی ستا امر ته تیار یم تنها ویلی یوه خبره کوم.که منی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی ما ورته وویل څنګه یی نه منم ته.ووایه خبره یی راباندی ښه پخه کړه بیا یوه شیبه غلی ناسته وه سر یی ټیټ کړی وو، هیڅ یی په خوله نه راتللی خو ما مجبوره کړه چی خبره وکړی تنها خبره شروع.

چي ما د دی راتلونکی جمعی نه مخکی مخکی د دی ځایه بوځه زه نور دلته وخت نشم تیرولی مور می همدا یو خبره راته کوی چی ته د چا سره تللی وی هغی ته چا ویلی ما او تا یی پرون په پارک کی کتلی یوی اوس په ما باندی همدا یوه خبره کوی چی ته مونږ ته سړی وښایه بغیر د وژلو یی نه پریږدو او.که پلار می راشی بیا به هرومرو را باندی تا پیدا کوی زه خو دانشم زغملای چی تا ته دی زما پلار یا ورور کوم تکلیف یا ضرر ورسوی نو.که خپل ژوند او زما ژوند غواړی څه چی د دی ځای نه تښتو که ما د دی پنجشنبی د ورځی نه مخکی بونه ځی بیا ته پوه شه او خپل دی کار یا به زه مړ یم یا ژوندۍ او تا به هم راباندې د وهلو او ټکولو په زور پیداکوی خو خدای دی هغه ورځ رانه ولی چی ستا یو نوک هم څوک بی ځایه غوځ کړی که زما او دخپل ځان باقی ژوند غواړی څه چی د دی ځای پښی سپکوو د دی خبرو د اوریدو سره می په خوله کی لاړی وچی شوی نور می هیڅ ویلی نشول زړه می ډک وو، هیڅ خبری می نشوی کولی او تنها همدا خبره ټینګه کړی وه، چی څو دا ځای پریږدو او همدا ښه کامیابه خبره هم وه، ما خو تنها په خبرو.کی هیڅ نشوی ویلی ځکه تنها ته به یی پلار وایی د چا سره ته په پارک کی ګرځیدی هرومرو یی پری پیداکولم بیا به می خپل کور کی څه جواب ویلی همدا می غوره وګڼله چی د دی ځایه څو تنها نه می پوښتنه وکړه پلار دی کله راځی ویل یی چی همدا نن هم رخصتی ورکړی راځی هو د پنجشنبی یا جمعی په ورځ خو هرومرو راځی ما ورته وویل ښه تنها څه کو چیرته به څو کله به څو تنها ویلی چی په ما هو نور دلته یوه دقیقه د کال قدر ته تیریږی که همدا نن ځی هم زه تیاره یم نه تنها نن خو نه څو نن ډیر مشکلات دی زه به څه کارونه په کور کی لرم هغه به حل کړم څه پیسی به پیدا کړم تنها ویلی د پیسو خبره وی خو زما سره شته دی د مور د بکس کیلی [چابی] زما سره شته زمونږ.د کور ټولی روپی او پانګه پکی ده زه تری ټولی را اخلم

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس دی راپسی خلاص وی چی مونږ.دا ملک پریښودلو خدای دی په ټولو ورانه کړی ولی یی زما سره دومره ظلم کولو....
ما او تنها  په همدای خبرو کی وو، چی د حجری دروازه ودرزیده زړه نه می یو خدای خبر وه، تنها هم ډیره ورخطا شوه، د تنها دوی حجری دوه کوټی وی په منځ کی یی دهلیز وو، په یوه کوټه کی یی خس او نور کباړ اچولی وو، او یوه یی د میلمنو لپاره جوړه کړی وه، ما ته یی ویلی د بوسو د کوټی دروازه خلاصه کړه تپه تیاره وه، پکی ما ته یی ویلی ته کینه زه څوک راالیږم چی دا څوک دیپه دی وخت کی دروازه بیا په دروازه ودرزیده زړه می خویه شو چی هسی نه څوک کلیوال می زه یی لیدل یم اوس راپسی راغلل تنها لاړه کورته زه هملته غلی ناست وم یو وړو کی روشندان نه می حویلی ته کتل چی یو وړوکی ماشوم چی د تنها ورور ښکاریدو خو خوا اوشا د نهو لسو.کالو به وو، چی د حجری دروازه یی خلاصه کړه، څلور نفرول د ماشوم نه یی پوښتنه وکړه ته د چا زوی یی د تنها د پلار نوم یی ورته واخیست ښه پلار دی کور کی شته هلک ویل نه غټ ورور دی شته هلک ویل نه هغه پوهنتون ته تللی دی او پلار می وظیفی ته تللی میلمانه د حجری په انګړ کی په کټونو کیپناوی ته کیناستل پخه تکیه یی ووهله ما ته هغوی ښکاری خو زه ورته نه ښکارم سخته غوسه می ورته راتلله غټ غټ پکولونه یی په سرول پخه مرکه یی شروع کړه، په خوله ورته سپکی سپوری وایم غلی د ځان سره لګیا یم چی هغوی وانه وری یو ځل می ویل راځه دا خو هسی نه هم پاخه ناست دی ته ترینه غلی وو، ووځه دوی می څه پیژنی خو بیا می زړه کلک کړو هسی نه چی بلدی وی او تنها ته نوره لانجه هم غټه کړم.....
اوری خو هسی نه هم تیار بل دی هسی نه چی نور یی هم تازه کړم تنها به هم رانه خفه شی چی تا دومره انتظار نشو کولای بیا می ځان سره وویل چی د ماذیګر پوری ناست وی هم زه به هم همدلته کینم په همدی شیبه کی چای راغللو خلکو ته پیالی ډکی شوی چای یی وڅښنو رخصت شول د تنها ورور ورپسی دروازه بنده کړه دتنها ورور د چایو تش لوښی واخیستل د کور په طرف روان شو ډیر خوشحله شوم کفن می وشکو تیار شوم چی لاړ شم د کوټی نه چی راووتم تنها د کوره راووته حجری ته راغله د ځان پسی یی د کور دروازه بنده کړه ډیره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مننه یی رانه وکړه نور یی اجازه راکړه را روان شوم... هماغه خوړه غاړی ته راغلم خفه د خپل کور په طرف روان وم چی دا په څه لانجه واوښتم مکتب خو هسی نه هم پاتی دی خو مور پلار ورونه خویندی خپلوان کلیوال د به هر څه رانه پاتی شی دا ټول ب بیا ووینم غوښتل می چی کله کلی ته ورسیږم د همدی اوبو په غاړه به کینم که چیرته سبا روان شو بیا به ارمان کوم د سوچونه او فکرونو دلاسه زه په ټوله لاره ځانته نه یم پوه شوی وخت تیر شوی وو، خپل کلی ته راورسیدم د مکتب د رخصتی ټیم را ورسیده خپل کور ته لاړم خفه په خپل کټ کی پریوتم ساړه اسویلی می د خولی وتل کله به می د کوټی در وازی ته وکتل کله به می کړکی ته او کله به می چت ته چی په ښایسته ګلانو می جوړ کړی وو، اه اه..دا به هر څه رانه پاتی شی ما څومره په شوق دا کوټه ځانته جوړه کړه تری دی وروسته به څوک دی کوټی ته ګلان راوړی دا په څه غم واوښتم کاش چی بیبنی می واده کی تنها نه وه لیدلی کاش چی بیښی واده ته نه.وم تللی اوس به ولی پدی حال وم خپل مکتب به می ښه په شوق ویلو درسونه به می یادول ما د دی نه ځه غوښتل اخر ولی خو.اوس شوی کار دی په همدی سوچونو کی وم چی وړوکی ورور می راپسی راغلو چی راشه ډوډی وخوره وړوکی ورور می په ښایسته الفاظو راته وویل ...ګلابه لالا..ادی وایی ډوډی وخوره په سترګو کی می اوښکی راټولی شوی چی دا ناري به سبا راته څوک وهی چی ډوډی وخوره..زړه می نه ټینګیده ښه می وژړل زړه می ښه سپک کړ، سخته غوسه می هغه شیطان ته چی د تنها مور تاه یی زما او دتنها شیطانی کړی وه، په زړه می ورته وینی راخوټیدی چی پیدا یی کړم وی وژنم خو ژر می اودس وکړو.

هسی نه چی مور می راپسی راشی او په دی حال می وګوری بیا به ورته څه وایم لاړم مور می ځانته د سترخوان ته ناسته وه، وړوکی ورور می ورسره وو، زه هم ورغلم ورسره کیناستم زه کپه لاندی تیروم هغه پاس راخیژی سوچونو واخستم چی سبا به زه د مور سره په یوه کاسه بیا ډوډی وخورم په زور زور می یو څو کپی وخوړی زړه می ډک ډک کیدو نه می د مور نه زړه کیدو او نه می هلته زړه ټینګیدو بیرته لاړم خپلی کوټی ته لمونځ می وکړ په کټ کی اوښتم را

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښتم خوب نه راتلو په زړه کی انډیوالان تیر شول چی لاړ شم او ټولو سره وګورم که سبا ځی نو د هغوی سره خوبه می کتلی وی او زما یو بل ملګری چی دهغه زما د زړه راز شریک وو، هغه ته به می راز ویلی چی هغه عبدالله نومیده ما غوښتل چی د تګ په باره کی دهغه سره مشوره ږکړم چی هغه څه وایی بیا می ویلی هسی نه چی عبدالله نه څوک خبر نه شی خو را وران شوم د هر ملګری سره می وکتل په اخر کی لاړم عبدالله چی زما سره په یواځینی همدا وو، چی راز به می ورته ویلی د هغه کورته چی د کورنه راووتو د ځان سره یی را روان کړو د پیښی په اړه می ورته ټوله کیسه وکړه، هغه ته می ویلی یو بله خبره ده چی ستا سره یی شریکوم خو.چی هیڅوک هم درنه خبر نشی هغه ویی بی غمه شه هیڅوک به هم رانه خبر نشی هغه باندی می ډیر ټینګار وکړو خو بیا می هم زړه نه غوښتل چی صحی خبره ورته وکړم بیرته می خبره بدله کړه خبره په بله بیا می واړوه هغه سره می ګپ شپ ډیرولګولو د عبدالله څخه می په ګپ ګپ کی بخنه غوښته عبدالله ویلی چیرته خو به نه ځی څنګه داسی ډیره ښښنه غواړی ما ویلی نه په مرګ او ژوند هیڅ باور په کار نه دی د ماذیګر لمر زیړ شوی وو، چی عبدالله سره می خدای په امانی وکړه د اعتبار په خاطر می هغه ته ویلیځه سبا به سره پت مکتب کی ګپ لګو، زه ولاړم په خپلو ټولو پټیو او شنو فصلونو وګرځیدم تنعا ته می زنګ ووهلو بلی تنها غرمه خو هغه خلکو زما او ستا مرکه خرابه کړه باقی فیصلی به سره اوس کوو، کله به ځو د خیره تنها ویلی سبا ته سهار کی نه تنها یا به بیګاه ته دشپی یا به سهار کی د اذانونو نه مخکی ځو تنها ویلی د سهار د اذانونو نت مخکی ټیم صحی دی ښه ته دی ځان ښه امده کړه زه امده یم چی د شپی ویده نشی د ضرورت سامان دی ټول برابر کړه مابیښی ځان برابر کړی خالی ته غږ. د ضرورت سامان دی ټول برابر کړه مابیښی ځان برابر کړی خالی ته غږ.

د تنها سره می مرکه بس شوه د شنو فصلو په نندار شوم د ماښام تیاره راخوره شوه راغلم خپل کورته د کاله په کوټه کی کلک ناست وم ځکه سبا بیا دا خوندونه نه یی د مور پلار ورونو خویندو سترګو ته به می ډیر کتل وړوکی وروړمی ما ته به یی ګلاب لالا ویلی هغه می په خپله غیږه کی کلک نیولی وو، د ټولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي ډېرې ډېرې خبرې کولې ډېر خپه ښکارېدم په سلو رګو کې مې يو رګ هم نه کېدو چې لاړ شم خو.مجبوريت وو، ځکه که تنها نه پلار پوښتنه وکړې چېڅوک ستا سره په پارک کې ګرځېدو که ما ورته وښيې بيا به څه کوم د هغې نه بعد به بيا که وتښتو هم هيڅ نتيجه نه ورکوی پلار به مې وايې چې بل څه دې دلاسه نه کيدل دا غم دې راته جوړ کړو دا مې غوره وګڼله چې همداسې په پرده کې زه او تنها دا کلي دا وطن پيرږدو او داسې خو هيڅوک هم نه پوهيدل چې ګلاب د جنې سره د دې ځايه تښتدلې او تنها خو هسې نه هم راسو وه، ځکه زمونږ.او د تنها دوی د کلي تر منځ درې ساعت مزل وو، همدا فيصله مې غوره کړه چې بايد پلار لپاره غم جوړ نه کړم زه يواځې خپل غم ته پخپله بايد ځان کلک کړم ..او خپل غم پخپل سر واخلم چې هر څه وی د خدای د طرف به وی که څه هم ډېر بلدې نه وم پاکستان کې او.نه په بل کوم ځای کې خو په هر حال چې روان شو بيا به ګورو د ډوډۍ خوراک نه بغد ما غوښتل چې خپلې کوټې ته لاړ شم خو د مور او پلار نه مې زړه نه کيدو هيڅ مې په کتلو.نه مړيدم هيڅوک هم د مور او پلار په ديدن نه مړيږم او.چې زما غوندې ترې سبا ته په يو داسې سفر روان هم يې چې نه يې هدف معلوم دی او نه طرف زما سره پولس زره روپۍ وی خو غوښتل مې چې يو څو.ورسره نوری د پلار نه راواخلم... پلار ته مې ويلي پلار هغه بله ورځ مې چې موټر بولی وو، د مستری راسره پنځه زره روپۍ پاتی شوی پلار مې جيب ته لاس کړ پنځه زره يې هغه راکړې او زر يې ما ته راکړې چې دا يې ستا د خرچې ځان سره مې ويلي هې هې تنها نه به بيا تا ته پلار زما غوندې زر روپۍ درکړې او نه ما ته خبرې مو سره وکړې شپه تيره وه، د ويده کيدو ټيم شو هر سړی د کاله د کوټې ووځې زه پکې ځانته پاتې شوم ناهيلې د کوټې نه ووتم او خپلې کوټې ته لاړم دروازه مې ځان پسې بنده کړه خفه خواشينې پخپل ځای کې ناست يم خوب نه راتللو او نه ويده کيدم ځکه سبا ته دا ښکلې مسکن پريږدم او خدای خبر په کوم طرف ځم د خپل راتلونکې سفر په اړه مې سوچ وهلو چې سهار وختې د اذانونو نه مخکې وو، ځم ی تر څو خلک پوهيږي مونږ به دا علاقه پريښې وی په همدې وخت کې دتنها زنګ راغلو چې څنګه چل به کوو، سهار کې ما ورته ويلي تنها ځان ښه امده کړه نه د شپې نه ويده شې او نه موبايل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بند کړی ځو خو هسی نه هم خو.چی څومره ژر لاړ شو ښه ده بیخی صحی ده زه ستا په انتظار ناسته یم چی هر وخت دی زنګ ووهلو زه تیاره یم.موبایل می بند کړ، دا داسی اسانه خبره نه.وه، چی زه او تنها د دی ځای نه تښتو داد مرګ سره لوبی دی ځکه خومونږ هم زړه نه ښه کوه خومجبوریت ډیر بد شی دی.
ځکه خو.مونږ.هم زړه نه ښه کو خو مجبوریت ډیر بدشی دی
ما د خپل سامان په جوړولو ځان مصروف کړ خپل ټول هغه سامانونه چی زما ورته ضرورت پیداکیدو برابر می کړل هغه کتابچه چی د یادار لپاره ما او تنها د خپلو زړونو د خوښی په شعرونو.او ټپو ډکه کړی هم د ځان سره را واخسته اوس می نور بیښی زړه بی صبره شو هیڅ نه ټینګیدو چی هر څومره می زړه ډاډه کول هیڅ ډاډه کیدو اوښکی می په مخ څپی وهلی نه خوب راتللو او نه ما غوښتل چی ویده شم زما تصویرونه په دیوال کی ځوړندوو هغه می را واخستل د ګردونونه می  پاک کړل بیرته می ورځوند کړل د تنها تصویرونه راسره ول هغه می د ځان سره را واخستل تنها ته می همدومره وویلی چی ویده نشی ګوره ډیر سخت امتخان دی یا به کامیاب شو او یا به بیرته مړه غوړونه ګیر شو.خو ځه ته غم مه کوه زه درته پلان برابروم تنها ته می دا خبره بیا تکرار کړه چی بیداره اوسه چی ساعت ته می وکتل دولس بجی وی د شپی د ځان سره می ویلی راشه همدا اوس روان شه ښه ټیم ته د تنها دوی کلی ته رسیږم خو بیرته وډار شوم هسی نه چی کومی بلا یا ځناور سره مخ نشم لږ وخت انتظار می نور هم وکړو خو اوشا دوه بجی وی نور می طاقت نه کیدو وه، مما ویل هسی نه چیپلان می شنډ شی سمدستی روان شوم د.کوټی دروازه می خلاصه کړه غلی ووتم د باندی په سترګو می اوښکی روانی وی  همدسی د کلا په شا خوړ ته روان شوم زمونږ د کلاشاته دونو خسول یو غټ لرګی می د ځان د د فاع په خاطر واخستو روان شوم خوړ ته ورسیدم د اوبو سره تیز روان وم سپوږمی راختلی وه ښایسته رڼا وه ډیر ژر د تنها دوی کلی ته ورسیدم د خوړ په غاړه ناست وم تنها ته می زنګ ووهلو زه ستاسو کلی  را ورسیدم په حیرانئ سره یی وویل رښتیا ما ویل  هو د خوړ په غاړه ناست یم د هغو کور سره لږ.څه نزدی وو ما ورته ویلی چی په همدی وخت کی ځانه ونه باسو بیا خو ګیرېږو ژر راځه که راتلای شی که نه چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه درشم... نه زه درځم ته د جماعت پوری راشه زه هملته درځ غلی غلی روان وم چیڅوک می د غل په تور کی له منځه یونسی.. د جماعت مخ ته یو دوه دقیقی ولاړوم چی تنها داسی وار خطا روانه وه کله هوسۍ چی د لیو نه راتښتیدلی وی چی څنګه ما ته را ورسید دستی یی د لاسه ونیولم دواړه لاس په لاس روان وو، موبایلونه مو دواړه بند کړل په منډو منډ د تنعادوی کلی نه ووتو تنها به همدا یو خبره کوله چی څه اوس دی راأسی لاس خلاصه وی ځه اوس دی لاس خلاص پلاره تاسو خو به زما غوښی په وهلو توی کړی وای...
تاسو.چی ویلی چی ستا سرع پارک کی څوک ګرځیدو هغه به مونږ بی وژلو نه پریږدو دواړو ژړل منډی مو وهلی ځانته نه پوهیدو په داسی لارو چی په هغه لار موټر نشی تللی مونږ غوښتل ښار ته کوز شو کانال ته چی ورسیدو مونږ منډه نور بس کړه خو تیز مزل مو کولو چیڅوک مو دپښو غږ هم وانه اوری کله چی یوولسمی ویالی ته ورسیدو د یو کور په مخه تیریدو سپی ډیره بده ورځ کوله ما ویل هسی نه چی د کور خاوند راونه ووځی یا د غلو ګومان راباندی ونه کړی ښه په تبه روان وو، ډیر زیات ستړی شوی وو، د کور نه یو یو غټ ټوخی راوتلو نږر خیرت وه، په کوڅو کوڅو.کی بازار ته.ووتلو موټر پع بازار کی ډیر کم ښکاریدل هغه هم هغه موټر چی هر یو د خپل شخسی کار پسی راوتی ول...
همداسی  موترو د طورخم هډی ته پیاده مزل شروع کړ چی په دی وخت کی دسهار اذنونه شروع شول مونږ.هم نور خوشحله شو ځکه ویره نور پوره ختمه شوه د قول اردو مخی ته پولس ولاړو ویی درولو کوم خواته ځی ما ورته ویلی د طورخم هډی ته نور یی څه ونه ویلی ځکه زنانه هم راسره وه، روان وو،چی لږ لاړو یو ګاډی هارنډونه وهل لاس می ورته ونیو موټر ودریدو سړی ډارک طورخم ته تللو ما ورسره د دربس خبره وکړه خو یو خبره می پری عملی کړه چی ډیر تیز به ځی تر څو.ژر طورخم ته.ورسیږو د همدی ځان نه ښه په شدت کی روان شو..
لاهمغسی تیاره وه چی د سراچې پل ته ورسیدو تنها باندی خوب حمله وکړه خو زه ښه وم بیداره وم تنها زما په ولی سر کیښود سترګی یی پټی شوی بی غمه ویده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه زما هم سترګی پټی پټی کیدی د شوګیر څع نا څه تګړه وم ځان می کلک کړو په موټر والاهم اعتبار په کار نه.وو، هسی نه بل خواته مو ورک نه کړی..
موټر په دیر شدت روان وو، څه نا څه رڼا شوه داسواد راسره پیدا شوه چی اوس به تنها هم په کور کی لټوی او.ما هم مور به می کوټی ته چغی وهی ګلابه پاڅه لمانځه ته لاړ شه..
تنها هماغسی زما په اوږه سراینبی وو، چی د ثمر خیلو پاټک ته ورسیدو دوه پولس د موټر مخی ته شول د ډریور سره یی خبری شروع کړی دا زنانه ویخه کړه نیشه خو به مو نه وی ورکړی ډریور ما ته مخ راواړوه  وررور دا زنانه دی ویخه کړه چی دا خلک شکی دی تنها می وخوځوله پاڅه تنها پاڅه تنها په وارخطایی د خوبه پاڅیده چی په پولیسو یی سترګی ولګیدلی ډیره وراخطا شوه، په واره خطا یی وویل څه خبره ده څه خبره ده پولیسو د تنها نه پوښتنه وکړه چیرته ځی تنها وویل پیښور ته ځو زه مریضه یم نور یی موټروان ته ویلی ځه..
تنها ما ته.ویلی که خیر دی پولیسو ته اطلاع شوی وه، ځکه زه ډیره وارخطا شوم بدی وخت کی ډریور خبره زیاته کړه چی دا نور څه خبر نه.وه خو دلته دا خور ویده وه هغوی دا شک کولو چی بی هوشی یی ورکړی او تښتوی یی..
موټر په ډیر شدت روان وو دا حصارشاهی په ډاګ کی دا ګاڼی او بوټی داسی ښکاریدل لکه ما او تنها سره چی عمری د خدای پامانی لاسونه خوځوی ساړه ساړه اسویلی می کول تنها ته می ویلی دا چا ستا مورته شیطانی کړی هغی ویل سړی ما ته هم نه دی معلوم ګنی هملته به می یو ځل د هغه چاره کړی وه، بیا به تللو ی هر خواته تللو زما او ستا ژوند خویی په خطر کی کړو خدای د هغه کور تباه کړی خدای دی رسوا او شرمند کړی خدای په خپلو وژړوی خدای دی همداسی خوار اوزار کړی کله ما او تا چی یی خوار او زار کړو د دی خبرو سره زما او تنها په مخ اوښکی روانی شوی ما خپل سر دتنها په ټټر کیښود او په خپلو روانو اوښکو می ورتع ټټر لوند کړو تنها هم ډیره بی صبره  ژړا کوله ډریور په شیشه کی بی واره بی واره کتل نو
ګرانو لوستونکو تر اوسه خو مو خپل هیواد وه، د خپل وطن هره لار او.ګودر راسره بلد وو مګر اوس د دی نه وروسته ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

..دوه نابلده مسافرو سفر شورع شو چی نه یی هدف او نه یی د حرکت لوری
معلوم دی نه چرته خاص بلدی وم او.نه په پاکستان کی اوسیدلی وم تر دی دمخه
دری ځله پاکستان ته راغلی وم کله دوه شپی او.کله دری شپي می تیری کړی وی
په هغی کی به زه څنګه بلد شوی وم...
ګاډی داسی روان وو لکه زما په زړه چی د پاسه روان وی په مغزو می دومره
بوج وو چی زما او د تنها د ټول عمر خفګان سره یو ځای شوی وی موټر په ډیر
شدت لاری رالینډوی زما او تنها د زړه نه یو الله خبر وو څه وختوروسته موبایل
کار شروع کړو پوه شوم چی لاره رانزدی شوه. د تنها زړه وو چی زه می مور
ته زنګ ووهم همدومره ورته وایم چی ځه اوس دی لاس خلاص پسی می هم
درنه ټولی راوړی نور که څه کولی شی ویی کړه دا ټول ستا دلاس اوس نوره
لټوه د خلکو په شیطانۍ ته ما ته دومره سز راکوی چی د انسانیت نه
خلاف بیا دی راباندی ټول ... خو ما ورته په خوله لاس
کیښود چی چوپ شه خلک پوهیږی نه به ته زنګ کور ته وهي او نه به زه تنها
ویلی زه خو زنګ هرومرو وهم زما غټ ارمان دی ماله په طورخم کی ویلی چی
زه به ورته زنګ وهم خو هلته موقع پیدا نشوه چی موټر نه ښکته شو زنګ به
ورووهو..
تنها می وویروله ما ویل چی نمدا اوس دی زنګ ووهلو هغوی پوهیږی چی په
پاکستان کی دی دستی چی څه خپلوان دی دلته دی هغوی ته زنګ وهی چی تر
څو د ګاډی نه ښکته کیږو مخی ته به مو ولاړ وی اوس خو ټولی خبری د موبایلو
دی په پنځه دقیقو کی ټول پاکستان در باندی خبروی...
تنها راسره ومنله پدی وخت کی د خیبر د دروازی نه موټر ډیر ګړندی ووتو ما
تنها ته ویلی داد خیبر دروازه ده هغی ویل ما ډیر مخکی لیدلی وه زه ماشومه وم
دلته می د مور او پلار سره راغلی وم ما همتله لیدلی وه بیا نه یم راغلی
رر.وخت وروسته موټر کارخونو ته ورسیدو د اختیاط لپاره همدلته ښکته شو
هسی نه په باډرو کی مو څوک خپلوان ووینی او یا مو ورته د کور د خوانه
زنګ نه یی راغلی چی ومونه نیسی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خطره هم راسره وه همدلته یو میلمستون ته ننوتو ډیر وړ.ی هم وو ستړی هم.وو سونډو می د خفګان نه ژتری نیولی ول په همدی ځای کی مو ځانته ګوټه یا خونه ونیوله پکی نور بی غمه شو شاګرد راغلو د خوراک حواله می ورته وکړ څه خواړه یی راوړل د چایو غوښتنه می تری وکړه شین که تور ما ویل شین یو غټه چاینکه راوړه افغانان چای ډیر څکی او ماته خود دی ځای چاینګه معلومی وی چای یی راوړو مونږ.مخونه او لاسونه وینځل د خفګان نه به اوس ډوډي د چا تیره شی خو څه نا څه ډوډۍ مو.وخوړه چای مو ټوله چاینکه تشه کړه .....
[دوه نابلده مسافر].. ناست دی ګپ شپ لګوی چی تنها خپله غوټه چی کوم جوړ کالی هم اُکی ول خلاصه کړه د غوټی نه یی یو بنډل پیسی را واخستلی ما ته یی ونیولی... که څه هم زما سره پیسی کمی وی خو پدی پیسو می زړه ډاډه شو تنها ته می په حیرانۍ وویل دادی د کومه کړی تنها ویلی دامی د کورنه ځان سره راوړی د پلار تنخوای ګانی می دی د ضرورنږت نه اضافه اُیسی به یی ماته راکولی د ساتلو لپاره او نن ورځ زما او ستا ورته ډیر ضرورت وو ځکه یو.خو نابلده یوی او بل چی پیسی نه وی مشکل مو ډیریده ...
پیسی بیښی ډیری وی خوشحاله شوم چی ځه د پیسو اندیښنه خو ختمه شوه تنها ته می امر وکړو چی دا پیسی اوس بیرته په کالیو کی په ځای کړه دومره شته چی دستی مو پری چاره روانه شی ساعت ته چی می وکتل د سهار لس بجی وی تنها ویلی ته ووهه زما د مور نمبر ته زنګ زړه می ډیر ډک دی چی تش یی کړم خو ما په ځان سره ویلی که زنګ ووهم ټول خلک پری هلته پوهیږ.ی چی پاکستان کی دی دستی ورپسی لټه شورع کوی .
ولی په زوره ځانته لانجه جوړه کړم؛ تنها می په خبره پوهه کړه هغه ډریور چی مونږ یی تر طورخم راوړی وو.
هعه ته می زنګ ووهلو سباؤن نومیده سباؤنه زه یم ته ځوک یې زه د وطن څخه تښتیدلی یم
ښه ښه اشنا څنګه یی ګلاب یی کنه هو ګلاب یم ښه په خیر ورسیدلی هو زه په خیر راورسیدم دلته په صدر کی په یو میلمستون کی یم همدا دی خپل نمبر دی هو همدا زما نمبر دی چی څه خدمت وو په همدی نمبر زنګ وهه مونږ ستا خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته تیار یو مونږ ستا ښه نشو هیرولی ډیره مهربانی بیا به سره خبری کو ما او تنها ته خوب راتللو خو څه وخت وروسته ویده شوی وم ښه خوب مې وکړو ځکه شپه می هم ټوله شوګیر کړی وه ډیر مزل مو هم پیا ده کړی وو، ښه می تبه جوړه شوه چی زه رابیدار شوم تنها هماعسی خراری ختلو ویده وه.

په هغې می زړه ونشو چی د خوبه یی راپورته کړم د کوټې دروازه می خلاصه کړه بیرون ووتم د هوټل شاګر د راته مخی ته راغلو څه خدمت دی؟

د ټیم ټپوس می تری وکړو د ماذیګر ځلور بجی وی.

چای می حواله کړو بیرته راغلم چی دروازه می خلاصه کړه تنها د خوبه رابیداره شوه سترګی یی سولولی هغی زما نه د ټیم ټپوس وکړو د هوټل شاګرد چای راوړلو د هوټل شاګرد ته می یو څو روپۍ ورکړی تر څو د بازار نه یو څه میوه د چایو لپاره راوړی هغه لاړو بازار ته ورښکته شو میوه یی راوړه د یو څه می پام بدل شوی وو دا هر څه راته د خوب لیدل ښکاریدل چای مو څکلو ډیر په خوند سره مو چای وڅښلی

دوه شپی او ورځی مو په همدی میلمستون کی تیری کړې یو څه مو پام غلط شوی وو

غوښتل مو چی نور د دی ځایه لاړ شو هسی نه دلته څوک پوه نشی خپل سامان مو برابر کړه هوټل والا نه می د بیل غوښتنه وکړه بیل یی راوړو د بیل مطابق پیسی می وروليږلی

یو شیبه په سوچ کی وم چی راشه لاړ شو مرادن ته هملته به یوه بټی کی کار کوم د بټۍ د خاوند نه به یو کرایه کور هم ونیسم د دی نه به یی هم غوږونه په قرار شی چی څوک مو ونه ګوری پدی وهت کې تنها غږ کړو

ګلابه په څه سوچ کې تللی یی؟

هسی یو فکر می وکړو که راسره یی ومنی...

ولی نه منم ګلابه؛ وایه کنه!!

ما ورته خپل نظر شروع کړو ما ویل دلته خو ټول بلدیان دی زمونږ او ستاسو خپلوان دی ته خو بیا هم په پټ مخ یی کور کی به قرار ناسته یی زه ګرځم خلک می ګوری هسی نه چی کوم یو سره مخ نشو او که زما د دی کار نه څوک خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی چی دا نجلۍ سره راتښتیدلی دا د پلار نیکه د ننګ شمله بی می سوچه په ځمکه وغورځوم.
زړه کی کې می ځان سره ویلی چی اوس می پری څه صرف وکړه خو تنها ته می لنډه کړه چی څو مرادن ته هملته به زه په بټۍ کی کار کوم ښختی به اچوم یابه یی بټۍ ته راچلوم هملته به د بټۍ خاوند نه یو کرایی کور ونیسو دواړه به پکی اوسړو هلته زمونږ پسی څوک راځی او چاته دا پته ده چی دوی هلته دی او فلانکۍ بټۍ کی دی.
تنها ونه منله نه هیڅکله نه ماته د بټۍ کار معلوم دی چی څومره سخت دی او څومره خیرن کار دی ما او ته به دلته په بازار کی یو ښایسته کور نیسو بیا به پکی اوسیږو تر څو چی نغدی وی دا به خورو چی دا اخلاصیږی بیا مو خدای مهربانه دی ما ورته ویلی تنا که دوه کوټی پسی هم وی چی کار ورسره نه وی اخر خم خلاصیږی او برکت نه کوی.
او نه ماته په تیاره خوند راکوی تنها ویلی ستا نه به بټۍ کی شنی خولی روانی وی او زه به په کور کی کراره ناسته یم
ګلابه تا زما په سره زما لپاره خپله کورنۍ،مور، پلا؛ وروړنه خویندی او ټول خپل خپلوان پریښودل صرف او صرف زما لپاره زه به څنګه په تا دومره تکلیف تیر کړم ته به یی لکه د خان خږری چرته به یوه سپکه ظیفه پیدا کړی چی اسانه کاریی وی بیا به کار کوی.
د تنها د خبرو سره می خپله ټوله کورنۍ سترګو ته نیغه ودریده په سترګو می اوښکی روانی شوی د تنها په ټټر ښه خپل رږه تش کړو تنها چی هر څومره ورسره مور ظالمی ظلم کړی وو ډیره یی خپله مور یادوله او ژړل به یی او کله به یی عږسه وویلی څه پریږدی یی دا ټول زما د مور دلاسه ښه شوه چی تری راغلو.
مه ورته ویل تنها د مور دلاسه دی نه ګلاب دلاسه ځکه که ما او تا چکر ته نه.وو تللی ولی به یی وهلی او ولی به تاته فاحشه بد کاره هیڅکله نه خدای دی نه کړی خو دا ټول زما دلاسه پریږدی چی دواړه اوس کړیږو نه به ته خپل مو او پلار وګوری او نه به زه ځکه څه پټ مو پری پریښودلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به په کومو سترګو افغانستان ته ځو او د کور خلکو سره په سترګی مخ کوو
هیڅکله به لاړ نشو د ډیرو خبرونه
وروسته می تنها ته وویل راځه چی چرته چکر ته لاړ شو چی دا زړونه مو لږ
ازاد شی دواړه په ویره ویره سرک ته راووتلو یو ټیکسی ته می لاس ونیو ودریده
ټیکسی والا ویل چیرته ځی خوله می بنده بنده شوه چی اوس ورته کوم ځای
وښایم د تنها نه می پوښتنه وکړه چرته ځو هغی هم ځواب را نه کړو ټیکسی والا
په مسخره وویل عجیبه ده خپل
حرکت لوری هدف درته معلوم نه دی زه او تنها دواړه موټر ته وختو ډریور ته
می ویل مونږ یو ښه پارک ته بوځه چی ښه چکر ځای وی ډریور پاکستانی وو
ډیر ښه هلک وو ډریور ویلی کوم خواته چکر ته بوځم چی هماعسی ځای ته دی
بوځم ما ورته ویلی ښه لری چکر ته ځو ډریور ویلی مری ته ځو ما خو کله مری
نه وه لیدلی ما ویل هو ځه ډریور ویلی ډیر ښه د چکر ځای دی اکثر سیالبین هلته
چکر ته ځی ما او ډریور سره خبری کولی تنها په پټ مخ غلی ناسته وه ډریور
ویلی دا نجلۍ دی څه ده ما ورته ګپ ورکړو دا زما کویدن ده خو لا واده می نه
دی کړی لږ عصبی تکلیف ورته پیدا شوی ډاکټرانو ویل ښه شنه ځایونه ګوری او
دا ورته چکر ته بیا یی پدی خاطر می دا د ځان سره راووانه کړی
تنها ډیره خپه ښکاریده ما هم په موټر کی سر ټیټ کړی وو ډریور ته می ویل
چی چاته ونه دریږی ترڅو ما درته نه یی ویل موټروان ویل بی غمه شه ته وایه
زه به هسی کوم ډیر زیات مزل مو په مرټر کې وکړو ډیر وخت وروسته ورسیدو
ربښتیا هم ډیر ښایسته منظری او د سیال ځایونه پکی ول ښه ډیر چکر مو ووهلو
ډریور هملته یو ځای کی ناست وو ما او تنها دوه پر دوه لاس په لاس په ښایسته
منظرو کی وګرځیدو تنها راته ویل تر څو به داسی سر ګردانه ګرځو چی لاړو د
خیره سره یوه کور به ضرور نیسو ما هم ورسره ومنله خو ما غوښتل چی په یو
داسی ځای کی کور ونیسو چی هلته زمونږ څوک بلدیان نه وی
په چکر ښه ستړی شو لاړلو هملته هوټلونه ول د خوراک لپاره مو تری څه
خوراکونه را واخستل په یو چمن کی زه او تنها کیناستو ډوډی مو وخوړه نور را
روان شو هغه ځای ته راغلو چی موټر. ولاړو ډریور ویلی څنګه ځای دی خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

موشو او که نه چکر پکی څه ناڅه خوند وکړو که نه ما ورته ولی نه ډیر ښه ځای دی ښه چکر مو پکی ووهلو
موټر ته وختلو موټروان موټر روان کړو ډیر ګړندی روان و خوا اوښا نور ماذیګر وو چی بورړ بازار ته راورسیدو.
ښی ډیري خبری می وکړی تنا ویلی ما به د کور کار کولو د ځو خبرو وروسته می خپله کورنۍ سترګو ته ودریده دواړو په زوره زوره ژړل په زړه کی می ځان سره ویلی زما پسی به اوس کوم ځایونه لټوی مونږ دلته په خوب کې راتښتیدلی یو که په ویخه زما خو د ځان نه دومره طمعه نه وه ښه ژړا می وکړه خو ژړا زما لپاره هیڅ ګټه نه کوله بغیر د تاوان نه ځکه ما اوس هیڅ نشول کولای مونږ په خقیقت کې ډېر بی پښتو کار کړی وو د پښتني ټولني لپاره ډیره ستغه خبره وه خو زمونږ همدا یو لاره وه چی همدا تیښته بله مو هیڅ چاره نه کیده تنها به ویلی مجرمه زه یم سزا راسره ګلاب خوری ما به ویل مجرم زه یم سزا راسره تنها خوری خو دا فیصله د خپل زړه په قاظی داسی کوم چی مجرم زه یم سزا راسره تنها خوری.
تنها ویلی زه ستا هر څه منم ګلابه خړ نور زړه کلک کړه ټول غمونه شاته واچوه اوس شوی کار دی کاش چی هملته مو هر څه په ځان قبول کړی وی او دلته نه وی راغلی هر څه په خپل کور کی خوند کوی خو ته زما لپاره بندی یی...
د تنها خبرو ډیره اغیزه راباندی کوله زړه می ورسره همداسی نرمیده خو زړه می نور کلک کړ پدی وخت کې د ماښام اذانونه وشول لمونځونه مو وکړل ناست وو نور مو یو بل ته ډاډ ګیرنه ورکوله شپه تیاره شوی وه چی د هوټل شاګرد دروازه ودرزوله زه ور ووتم څه خبره ده؟
شاګرد ویلی ډوډی درته راوړم؟
ما ویل هو ډوډی راوړه شاګرد ډوډی راوړه ډوډی مو خوړل نه ماته خوب راتللو نه تنها ته د خپل تیر شوی ژوند کیسی مو یو ځل بیا شورع کړی ما ته به چی کله د ملګرو بنډارونه رایاد شول ساړه اسویلی به می د خولی نه ووتل تنها به ویل څه خبره ده بیا دی څنګه اسویلی شروع کړل ما به ویلی هسی....

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تنها نازک مړوند باندی می سر ایښی وو د شپی څه وخت بعد زه ویده شوی وم تنها هم راپسی ویده شوی وه سهار چی پاڅیدو ناوخته وو د سهار ناشته مو په همدی میلمستون کی وکړه تنها ته می ویلی راځه چی چرته ځانته یو کرایی کور ونیسو ترڅو به په هوټلو کی یو تنها خو پدی خبره خوشحله وه چی د میلمستون نه راووتو بی هدفه او په ویره ویره رولن وو په پوښتنه می یوه کارخانه درکی کړه چی همدلته به یی کرایی کوټی هم ورکولی دا کار خانه په کارخانو کی وه سړی دا هم وویلی چی څومره نفر ورځی نیسی یی یو ټیکسی کی وختو کارخانه مو پیدا کړه د تختوو کارخانه وه تنها می د کارخانی مخی ته یو څنګ ته کینوله زه ور ننوتم د ګیټ د پیره دار په رهنمایی می د مشر دفتر پیدا کړ دفتر ته ننوتم یو شیخ غټ پهلوان سړی پکی ناست وو سلام می ورته واچو د سلام ځواب یی راته راکړه ما ورته ویلی مشره د دی کا خانی مسؤل ته یی؟

د هو ځواب یی راکړ زیاته یی کړه چی خدمت وایه ما ویل خدمت دا دی چی ز دلته باید کار وکړم همدلته به راته یو کور یا یوه ګوټه حواله کړی که کرایی هم وی ورته تیار یم سړی ویلی څو نفر یی ما ورته ویلی یو زه یوه یوه راسره زنانه ده سړی افریدی و ډیر ښه سړی وو سړی ویلی اوس به درته کوټه پیدا کړم هغلته لاس یی په کړکۍ کی ونیو په دویم چت کې کوټه وه.

ډیر لویه کارحانه وه پراخه چاردیوالی یی وه ګرچاپیره یی کوټی وی اکثر کارګرو همدلته کرایی خونی تنیولی وی ما هم یو خونه ونیوله سړی ته می ویلی زه بیرته راځم بیروان راووتم تنها حیرانه ولاړه وه زما انتظار یی کولو چی په ما سترګی  یی ولګیدی ډیره خوشحله شوه تنها ته می ویلی کا خو وشو همدلته می کور هم ونیولو او کار به هم کوم په همدی ځای کی به خوندی یو دلته مونږ څوک ګوری څوک راپسی دلته راځه .

تنها خوشحله شوه ما ورته ویلی همدلته کینه زه ورځم چی کوټه معلومه کړم بیرته ورغلم کارخانی ته سړی ته می ویلی ښه مشره زما خو کارته خوښه راغله خو دا راته ووایه چی په څه حساب به زه دلته کار کوم سړی ویلی کارونه ډیر دی خو ته خالی کار شروع کړه ما ویل نه ته زما په خبره ونه رسیدی د تنخوا خبره کوم څه تنخا به راکوی سړی ویلی ټول ګاریګر لګیا دی د کاریګرو ټولو تنخوا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان ده شپږ زره کالداری د یو نفر د میاشتنی کیږی زر روپی تری د کوټې کرایه
کټ کوو سره د برق ذ بیله هر څه سره که دی خوښه یی چی سړی درسره کړم
چی کوټه درته معلومه کړی
ما ویل خوښه می ده سړی په غټ غږ اواز کړو وه بلاله.بلال دلته پیره دارو وو
چی راغلو زمل سره یی کړو لاړو چی اطاق مو خلاص کړو حیران وو د هغه
کور ودان اطاق یی راجارو کړو.
یو دری دوه زاړه توشکه او دری بالخته پکی ول لاړم تنها می رارو‌انه کړه چی
کوټی ته راغلو چا بی زما سره وه دروازه می خلاصهذکړه چی وونو‌تو شکر مو
پری وویستلو راغلم سړی ته می ویلی زه به دی کوټی ته سامان راوړم ستا د
خوانه خو به څه خبره نه یی سړی ویلی نه هیڅ خبره نشته ورشه بلال ته ووایه
چی د هغی اطاق فرش خو درته درکړی نور سامان ورته راوړه هغه پکی خور
کړه بلال فرش راکړو ښه نوی فرش وو هغه می تنها ته ورکړو ته دا هوار کړه
زه راځم
لاړم بازار ته ووتم ضرورت وړ سامان می ټول واخستل لکه سطل ګیس ډبه
لوټکی؛ کاشغی؛ دیګی؛چایبر، یو غټه کمبله، دوه اسفنجه ګرچاپیره دیوال ته
پرده دا هر څه می یوه ټیکسی کي واچول کارخانی ته می راوړل ځکه اوس مو
کور شو هر څه ته ضرورت پیدا کیدلو تر کاری به می راوړه همدلته به تنها
پخوله ډوډی به مو تیاره راوړه په بله ورځ می کار شروع کړو زما همدا کارو
چی ماشین ته به می مواد راچلول د تختو کارخانه وه هر قسم تختی به یی د
ماشین په زریعه جوړولی غټ غټ برقی ماشینونه ول مونږ به ورته مواد
رانزدی کول یو غټ تش وو دا به مو ډکولو بیا نورو کاریګرو د هغی ماشین ته
وراچول ماشین ته به استاذ ولاړو هر قسم چی به یی غوښتلی همغسی تختی به یی
را اوباسلی نرۍ ،چیف بوړ، تختی وی ما به ډیر تیر کار کولو سهار به کار
شروع شو د غرمی به دوه ساعته رخصتی وه زه به غرمه کی لاړ ډوډی به می
نانوایی نه راوخسته کوټی ته به لاړم تنها به تر کاری پخه کړی وه د تنها دلاس
تر کاریَ به ډیر خوند کولو نور هر څه مو پوره وه.
یوازی کوژدنه او واده کول مو فاتی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه که مه څوک راوستل دلته کارخانی والا ټول پوهیدل او نه می غوښتل چی څوک راباندی پوه شی
د هغی ورځی انتظار مو کولو چی مونږ ته د نکاح چانس پیدا شی خو دا ځای هم صحی نه وو چی دلته مونږ نکاح وکړو د دجمعی ورځ وه کار چوټی و زه هم د سهار لمانځه نه بعد بی غمه ویده شوم تنها هم ویده وه نه زه د تنها په څنګ کی په خوب مړیدم او نه تنها مړیده لمر جګ ولاړ وو مونږ لاویده وو چی پدی کی تنها یو دم د ځان سره په خوب کی خبری شروع کړی تنها ته می غږ وکړو تنها تنها څه خبره ده؟ پاڅه ناشته تیاره کړه تنها چی د خوبه پاڅیده ډیره خفه ښکاریده ما ویل تنها په خوب کی دی خبری کولی تنها وایی ګلاب خوب کی می د مور سره خبری کولی تاته یی څوځله وویلی چی مور ته می زنګ ووهه تا نه وهلو مور می ډیره یادیږی او غوسه می هم ورته راځی اوس می هم ورسره په خوب کی لانجه وکړه ما غوښتل چی نن د تنها دا غوښتنه سرته ورسوم چی تنها د خپلی مور سره وغږوم تنها ته می ویل ته ناشته تیاره کړه زه بیرته راځم راووتم د کارخانی مخی ته په دوکان کی می یو نوی سم کارټ ښی ډیری پیسی می په سم کارټ کی جم کړی راغلم تنها ته می ویلی راځه دا ناشته وکړو بیا به زنګ ستا مور ته ووهو تنها ډیره خوشحله شو.
ناشته مو وکړو د تنها د موبائیل نه می د هغی د مور نمبره واخیسته دا افغانستان کوډ می ووهلو نمبر می ووهلو زنګ ور روان شو د تنها مور چی څنګه زنګ اوچت کړو تنها ته می ورکړو تنها ویلی موری زړه دی یخ شو چی درنه راغلم اوس راپسی کرځی بغیر د خدای ج نه نور هیڅا ته هک معلوم نه یو مور یی ورته په زاریو او منتونو شروع وکړه ښځی خو ډیری مکر جنی وی لوری ودی شرمولو هیڅا سره دی سترچو مخ کیدو ته پرینه ښودلو چی هر چیرته یی بیرته راشه چی هر څوک ستا خوښ وی هماغه به دی د ژوند ملګری کړو هر څه چی ته وایی مونږ یی منو تنها بیا ورته په زشته وویلی هغه وهل ټکول خو به دی په یادوی کنه زما نه خو مو پوټکی وباسلو د اول نه به دی دا سوچ کړی وو اوس به مړی هم نور ونه ګوری. مور یی په موبائیل کې تیری تیری چغی وهلی او تنها ورته دلته چغو شروع شو زما هیڅ دلاسه نه کیدل ما ته هم خپله کورنی رایاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه په ژړا مې شروع وکړه تنها ته ورغاړې وتم ښه مو سره وژړل ډېر وخت ووتو تنها ما ته ویلي چې هر څومره ظالم مور او پلار وي هماغومره خواږه وي که هر څومره اوس هغوی ووایي ما او تا نور نشو تللای زما او ستا نور همدا ځای شو ځکه هلته به مونږ په کومو سترګو ځو په کومو پښو به ځو هغوی دې خپل کار کوي او مونږ به خپل کار دا ډیر ښه بې غمه ځای وو نه مو څوک بلدیان دلته ول نه مو څوک خپلوان خو زمونږ دا یوه خبره دلته ډیره سخته وه چې نکاح، شیرږ ماشتې مو په همدې کوټه کې ګذاره وکړه او زما هم زړه تنګ وو خو د تنها زما نه هم ډیر تنګ وو هغې غوښتل چې چیرته په بازار یا بل کوم ښه کیمپ کې یو کور ونیسو چې ښه پوخ کور وي اوبه ولري نور څه نا څه ځانګړتیاوې ولري.

د تنها خبره زما هم خوښه شوه هغې ته مې ویلي خبره خو دې بیخي صحي ده خو باید چې اول بل ځای کې کور درکې کړو بیا به د دې ځایه ځو زه به هر ماذیګر چې کار به رخصت شو د کور په لټه به شوم یو څه وخت مې همداسې لټه وکړه خوا او شا یو میاشت وتې وه چې هماغسې به مې غلې غلې پوښتنې د یو کور کولې.

یوه ورځ ماذیګر روان وم چې د یوی رهنما لوحه مې ترې سترګو شوه دفتر ته وررننوتم سلام مې واچو د سلام ځواب یې راکړو سړی پوښتنه وکړه څه امر خدمت ما ورته ویلې، ورووره یو کور مې په کاردی چې دوه خونې تشنابونه د اوبو بمبه ګیس او نورې ځامګړتیاوې او اسانتیاوې ولري سړي ویلي کور شته دا هر څه چې تا وویلې لري یې خو ته څه ضمانت لرې ما نور هیڅ ضمانت نه درلود یواځې پاسپورټ راسره وو چې په هغې باندې هم د پاکستان ویزه نه وه لګیدلې همدا پاسپوزټ مې ورته وښودلو سړي ویل ځه ته سبا راشه زه به د کور مالک سره مشوره وکړم لیرته کور ته راروان شوم د کور لپاره مې تازه میوه او ترکاری راواخیسته لاړم تنها ته مې ویلي یو کور مې پیدا کړو ډیر ښه کور دی سبا ته یې غوښتي یم ورځم کیدا شي چې راته یې وسپاري سبا ته مې د کار نه وختي رخصتي واخیسته بیا هماغه رهنما ته لاړم چې مخکې ورغلې وم سړي ته مې سلام واچولو د سلام ځواب یې په ډیرو ښو الفاظو راکړ راته یې ویلي چوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې کینه زه چوکۍ کې کیناستم سړی غوږ ته موبائیل ونیو د کور خاوند راغلو غټ مظبوط سړی وو په ږیره کی سپین ویښتان هم وو یو شیبه ناست وو د رهنما د مشره سره وبنګیدو ما ته یی مخ را واړولو بچیه څه کار کوی مور او پلار دی شته څواتنه مو د کور غړی دی پدی وخت کی می په سترګو اوښکی روانی شوی سړی ډیره ښه سړی وو وی.
بچیه ولی څه خبره ده ما زړه لړ ډاډه کړو بیا می ورته وویلی نه می پلار شته نه مور هیڅوک هم نه لرم بغیر د خدای نه یو زه یم یوه می کورودانی د د کار په اړه می معلومت ورکړو چی په فلانکی کارخانه کی کار کوم د کور والادستی مشر ته ویلی ولیکه یو خط دا کور می همده ته تسلیم کړ د کور خاوند راسره لاړو کور یی راته تسلیم کړو د کور کیلی(چابی) یی راته راکړه کور می ځیر زیات خوښ شو د اوبو څاه ته پمپ لګیدلی وو بیرته مو کور بند کړو رهنما ته راغلو رهنما والا ویلی د کور کرایه شپږ زره روپۍ ده د میاشتی سړی ته می څه زاریٔ وکړیٔ چی لږه ګزاره وکړه په ډیر لحاظ او لانجو می پری څلورنیم زره روپۍ کړه
سړی ته می یو څو روپۍ پیشکی ورکړه نور کی اجازه راواخیسته ماښام ناوخته وو د ځان سره می څه سامان د خوراک لپاره راواخستو لاړم د کارخانی دروازه بنده وه ومی ټکوله وکیدار پوښتنه وکړه څوک یی ما وویل ګلاب یم لږ د تر کاریٔ پسی تللی وم...
کوټی ته وختم دروازه می خلاصه کړه تنها په جانماز پرته وه د دروازی د ګړپ سره اوچته جګه شوه تنها ډیره خپه ښکاریدل زه په توشک کیناستم تنها راته بالخت کیښودلو ویل یی ته تردا اوسه چرته وی زما د زړه نه خو یو خدای خبر وو ما ویل چی څه چل خو به درباندی نه وی شوی موبائیل دی هم بند وو.
هغی ته می ویلی تر کاری دی پخه کړی؟
د څه زیری؟
تنها سره سودا پیدا شوه نه اول راته زیری راکړه، زما دی سودا کړه ما هسی لږه مسخره په تنها کوله ما ویل نه چی ترچڅو ترکاری پخه نه کړی نه یی وایم خو تنها بیچاره ګۍ هم ډوډی تیاره کړه چی د سترخوان ته کیناستو تنها ویلی زه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې پورې کېږه ډوډۍ نه خورم چې ترې څو دی راته نه ئي ویلی څه خبره ده راته وو ایه!!

مه خوله خلاصه کړه چې په کالونۍ کی می یو ښائسته کور نیولو دوه کوټې اشپزخانه، تششنابونه؛داوبو بمبه یا پمپ او دګیس پیپ هم لری تنها دومره خوشحله شوه چې زه پخپله غیږه کی کلک ونیولم همدایی ویلی چې د خوشحلی اظهار نشم کولی ځکع دا څو میاشتی خو ما او تا په زاندان کی تیری کړی چې د دی نه وروسته خو لږه په ښه ځای کی واوسیږو تنها ډیره خوشحله وه خو ما ورته ویلی تنهاذکور مو مو ونیو لاړیه شو خو دا مزی به هلته نه وی لکه دلته چې بی غمه او سیدلو هلته به مونږ په ویره اوسیږو ځکه هغه کیمپ ده کالونی دذه ډیر بلدیان به پکی وی هغې کور کی خوزه بیا د غرمی ډوډی ته هم کور ته نشم تللی خو تنها ویلی څه خدای خیر پیښ کړۍ.

خو زه پدی یوخبره ډیر خوحله وم چې څنګه هغې کور ته لاړو نکاح به تړو تنها هم په همدی خوشحله وه چې نوی کورته لاړو نکاح به همله وتړو په همدی مو فیصله وکړه که سبا شو که بل سبا کور به وړو همله نوی کور ته.

ډوډی مو وخوړه لمونځ می وکړ، په بستره کی پریوتم تنها لوښی ټول کول ډیره خوشحاله ښکاریده دواړه لاسونه یی زما نه کلک چاپیر کړل دواړه ویده شو پاچاهی خوب وو سهار پاڅیدو لمونځونه مو وکړل چای مو څښلې تنها غوښتل چې نن کار ته مه ځه او د کور غم وکړه، ما هم ورسره ومنله لاړم د کارخانی په دفتر وو ننوتم د دی نه یو څو ورځی مخکی استاذ شوی وم ټولو به راته کابلې استاذ ویلو، پهلوان سړی چې حسین علی نومیده ستوی مه شی مو سره وکړه، سړب پوښتته وکړه کابلې استاذ څنګه چل دی خدای دی خیر کړی؟

مه ورته لنډه کړه خیر دی زه نن بازار ته ځمپه کور کی څه ناروغی ده ځم ډاګټر ته بهانه می ورته وکړ، زما په دی اوه میاشتو کی اوله ورځ وه چې د کار نه پاتی شوم سړی هم پوهیده چې کار لری اجازه یی راکړه او دا خبره یی راته وکړه چې کله درته کاریدا کیدو یوه ورځ مخکی وایه، چې کاچګر بل ماشین ته موادخ جمع کوی ما ویل صحی ده همداسی به کوم د خپلی خبری د صحت لپاره می تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځان سره کړه، لاړم رهنما والا ته مې وویل مونږ نن یا سبا کور راوړو څه خبره خو نشته؟
رهنما والا ویل نه نور څه مشکل نشته، مونږ د کور کرایه د څو میاشتو پیشکی اخلو که درسره چې خو له تا یې هم اخلو، که درسره نه وی غک یې مه کوه.
سړی ته مې وویل، د روانې میاشتې کرایه خو مې بیګاه ماښام درکړه او نوره به د هرې میاشتې په سرکې زه درته همدلته راوړم ما سره خو روپۍ ډیری وی، خو داعتبار د خاطره مې هغه ته ځان غریب معرفی کړه، هغه ویلی بې غمه شه ما ته ستا مشکل معلوم دی.
سړی ته مې دعا وکړه، ورته مې زیاته کړه، چې مونږ ستا د اولاد پر ځای یو ځکه زمونږ خو هیڅوک هم نشته ، ستاسو دا احسان به هیڅکله هم هیرنه کړم تل به درته دعا کوم د سړی نه مو اجازه واخسته یوه ټیکسی کی سپاره شو، د کور مخې ته د ټیکسی نه ښکته شو، ټیکسی والا ته مې پیسې ورکړی، لاړو ما او تنها کور ته ننوتو هیڅ شی پکی نه و تش کور و نه پکی درۍ وه نه پکی فرش نه قالینې وی خو یو شیبه پکی زه او تنها ناست وو، ډیره خوشحالی مو پکی وکړه.
د څه وخت وروسته مو، چې بیرته کرږر قلف کړ، بازار ته لاړو قالینې ، اسفنجونه، بالختونه، کټ چې څه شی ته اړتیاوه ، ټول مو واخستل ، ځکه مونږ غوښتل، چې پاخه همدلته اوسیږو.
ټول سامان مو په یو سوزکې موټر کی واچولو کورته مو راوړه ، په کور کې مو ټول ځیزونه برابر کړل، دیوالونه مو په پردو پټ کړل سامان مو ټول په بکس کی کینودلو، د ضرورت نه اضافه پیسی مو په بکس کې کینودلی ، تنها ته مې ویلی راځه نن هسې هم اوزګاریو چې کالی د ځان لپاره واخلو او نور سامان د ځان لپاره واخلو.
راغلو بازار ته د تنها لپاره مې تیار کالی واخستل ، ما هم ځانته کالی د واخستل، خیاط ته مې ورکړل چې سبا پوری یې وګنډی ، ډیر نور د سینګار سامانونه مو هم واخستل، نور د غرمې ټیم هم وو، د خوراک لپاره مې څه راواخستل کور ته راغلو غرمه مو همدلته په نوی کور کی وکړه، سامان مو په بکس کې قلف کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که خیر یی سبا ته د هغی کورنه همدلته نوی کور ته راځو، دروازه مو بنده کړه د سړک په لور را روان وو، د سړک په سر یوه ټیکسی کي وختو کارخانو ته روان شو، زمونږ کارخانه د سړک نه لږ څه لری وو، ټیکسی والا د کارخانی مخی ته ښکته کړو.
خپل زوړ کور ته راغلو ، تنها ډیره خوشحاله ښکاریده، یو شیبه ناست وو چی یو پیره دار د لاندی نه چغی وهلی:
کابلی استاذ! کابلی استاذه....!!
چی د کوټی نه راووتم ویلی مشر دی غواړی ، هغه می رحصت کړ ، مه ورته وویل ، زه درځم چپلې می په پښو کړی تنها ته می ویلی ته لږ چای وکړه زه راځم مشر غوښتی یم.
لاړم مشر ته ورغلم ، د میز په سر یی په یو کاغذ سره ټیټ کړی و څه خط یی لیکلو، چی زه ورننوتم سره یی جګ کړ، سترِی مه شی مو وکړل، د ناروغ پوښتنه یی رانه وکړه چی څنګه شوی دی، ما ورته ویلی دا باید ځانته ځای کی و اوسیږی چی بیښی شور وانه وری، دا زړه تنګی ده او ټول تکلیف یی داعصابو دی شور او ډیر ی خبری یی پری بندی کړی اوس می می په بازار کی کور ونیو ما ویل ک
سړی ویلی لاړ به شی خو هسی نه چی بیا دی ونه ګورو او یا ونه تښتی ما ورته ویلی نه ولی به تښتم مخکی می کار سخت وو پیسی کمی وی اوس خو کار اسانه شوی او پیسی یی ډیرې نو ولی تښتم؟؟
د سړی خو هم زما په کار کی ګټه وه ځکه ما به پوره څلوښت تختی د نورو استاذانو نه ډیری د ماشین نه ویستلی مشر هم ډیر خوشحله و ټول ما ته حیران وو ځکه عمر می کم وو خو کار می ډیر ښه کار کولو په لږ وخت کی ډیر ښه استاذ شوم.
پیسی یی هم راته د ټولو استاذانو ډیری راکولی ډیر ښه د تبی کار وو زه خپله هم نه تللم خو د مشره نه می په همدی خبره اجازه واخیسته مشر ویلی نن خو به نه ځی نا وخته دی سبا ته هسی نه هم جمعه ده رخصتی ده یو موټر به راولی خپل سامان به پکی بار کړی زمونږ سامان به همدلته پریږدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشر خبره می خوښه شوه په زړه کی ډیر خوشحله وم لاړم خپل کور ته تنها چای تیار کړی و زما په انتظار ناسته وه چی ورغلم تنها ویلی کابلیه څه یی ویلی!!

هغی خو خو د اول ځل لپاره زما نږدا نوم واورید چی کابلی استاذ مسخرې یی راپسی کولی ی ته کابلی یی که ننګرهار چی تا ورته ځان کابلی معرفی کړی؟

ما تنها ته ویلی ما ورته همدومره ویلی چی زه د افغانستان یم نور می ورته هیڅ ولایت نه دی ښودلی هغوی راته د ځانه کابلی استاذ وایی ټول پیښوری او پاکستانی افغانانو ته کابلی وایی.

تنها ویلی چی لاړی ما لکه د لیونۍ د ځان سره خندل چی رایاد به شول چی کابلی استاذ ما ورته ویلی مشر استاذ د دی ناروغۍ پوښتنه وکړه.

ما ورته ویلی چی هغه مریضه ده هغه ته می ویلی اوس می دارو واخستل او دا می هم ورته وویل چی سبا یی کور ته بیایم ټوله کیسه می ورته وکړه.

تنها هم ډیره خوشحله وه چی اوس سبا ورځ ژر راشی.

په همدی انتظار کې ناست و چا ی مو وڅښلې د تنها سره په خبرو خبرو ډیر زیات وخت ووتو د ماښام اذانونه وشول شپّه نوره هم راپخه شوه د شپی ډوډی مو وخوړه دواړه ستړی وو ځکه ډیر زیات د ورځی ګرځیدلی وو په کټ کی دواړه څملاستو ویده شو سهار چی پاڅیدو د لمانځه او چایو نه وروسته مو ټول سامان لاندی ښکته کړ د کارخانی سامان مو په همدی کوټه کی پریښود.

په یو سوزکي موټر کې مو سامان بار کړ مشر راته څو روپې راکړې څه یې رانه ستنې کړې د دي لپاره چې ونه تښتم خو که زه تښتیدم بیا مې د هغې روپو پروانه ساتله زه ترینه بیا تللم خو زه پخپله نه تللم ډیر ښه کار وو زه پکي ښه خوشحاله وم ښې پیسې یې راکولې زما د کور کرایه د بجلي بیل د کور نوره خرچه هر څه د همدي کار خان نه کیدل ډیرې پیسې به راته اضافه پاتي کیدې څه وخت وروروسته خپل نوي کورته راورسیدو د کور مخي ته مو د ګاډي نه سامان ښکته کړ پسې مې ورکړي سامان مو کور ته دننه کړ لا وختي وو زه لاړم بازار ته د خیاط ته.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنها بیچاره هم د ځان نه خپله ناوی جوړه کړه
بیا مو سره یو بل دلاس ونیول یو شیبه دوه پر دوه په حویلۍ کې وګرځیدو، نور بیرته راغلو پالنګ کې کیناستو، زه هم خوشحله هم خپه وم خو د تنها سپیری ځیری هیڅ مزه نه راکوله یو شیبه ناست وو سوچونه خوشحالۍ ته نه پریښودلو تنها یو سوړ اسویلی وکړ، چی په ما یی سم اور بل کړ، ویل یې که اوس مو چیرته وطن کی سره نصیب خلاص شوی و، اوس به ستاسو په کور کې وو که نور هیڅ هم نه وه په میاشت کې خو به می یو ځل کور ته تللم.
زمونږ په ځای کی اوومه به یی دی ته ویله چی ناوی به اووه شپی د خاوند په کور کې وکړې بیا به ورپسی د ناوی د کورنۍ خلک او خپلوان سره د ناویو او تحفو راتلل بیا به یی د ځان سره ناوی هم بیوله تنها همدا د اوومی خبره وکړه، چی زما پسی به په اوومه څوک راشی یو بل ته چی به مو کتل ژړا به راتلله دواړه سره یو بل ته ور غاړی وتو ښه مو خپل زړونه تش کړل، د هرې خوشحالۍ نه وروسته به مو د پلار ، مور او نوری کورنۍ غمونه ژړولو.
هر وخت به خوشحالی لږه او خفګان به ډیر وو، خو په همدی ډول مو شپی او ورځی تیریدلی ، د نکاح نه وروسته دوه ورځی کار ته هم لاړ نه شوم، نور د هغی نه وروسته خپل کار ته پخپل وخت تللم، مشر رانه ډیر خوشحاله وو ځکه هغه دا ګمان کولو، چی دا ګلاب کور د دی ځای نه یوسی نور خدای خبر چی راشی.
خو ما د کړ ی وعدی مطابق خپل کار ته ځان ورسولو.
سهار کی به ډبه( بس )کی وختم کارخانو کی به تری کوز شوم ..غرمه کی به کله راتلم او کله نه .. تنها به ورز په ورز خفه خکاریده..
زکه زان ته به کور کی وه.. هیسوک هم ورسره نه وه. چی ساعت ی ورسره تیر شی .دوه نابلده مسافر وه هره جمعه به چکر ته تللو.
د دی په خاطر چی د تنها پام غلطیږی. مونګ دوه نابلده مسافرو نه کله مسافری کړی وه .
او نه مو د مور . پلار او نوری کورنی جدایی زعملای شوه. ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورز ماذیگر وه کارخانی نه را روان وم .چی یو کلیوال می راسره مخ شو . دیر نزدی وه راسره .نه تری نختیدای شوم .او نه هم تری پتیدای شوم کلیوال مو همدلته له پخوا اوسیدلو. زکه خو ی زه خپل نوم نه پیژندم..
همدومره ی پیژندم چی د فلانی زوی ده
هغه سره می ستری مشی وکرل. خکته پورته ی راته وکتل، سنگه ی ،خه ی ، جور ی ،
سوال،جواب نو سره وکر، په اخر کی ی راته وویلی چی هغه، ورور دی پیدا شوی ده ! د کور نه چی تختیدلی وه هعه سنگه شو ؟
ما ورته ،وویلی، نه پیدا شوی نده ، زکه خو زه هم راغلی یم په لتولو لتولو خو ی نور ستری کرو ،
خدای خبر چیرته به وی ،
سری خبر نده . چی همدا زه یم او د کوره راتختیدلی یم .
خو د هغه نه روان شوم ، د دی نه وروسته می ، خپل پوزیشن داسی جور که ، چی باید هیڅوک می ونه پیژنی ډیر وخت ووتو په همدي کور کې مې خوا اوشا دوه کاله وخت ووتو. ځنګ ګاونډیان هم راسره ځه ناځه بلد شوي وو. خداي پاک مونږ ته یو ښکلی زوی هم راکړل. چې په ما او تنها ډیر ګران وو اخر د دوه نابلده مسافرو زوی وو نوم يي عدنان و. ډیر شوخ ښکاریده. زمونږ توجو به یی تل خپل ځان ته ګرځولي وه. یوځه مو د وطن د خلکو فکر د مغزو وتی و یوه ورځ د کارخانی کې ماشین خراب شو کار یی نه کولو غټ ماشین و ډیر په سختي جوړیده مشر مستري پسي جواب ولیږه. مونږ ته یی رخصتی راکړه راغلم پارک ته په پارک کې په چوکی ناست وم
هسي مې موبایل کې ګوتي وهلی په زړه کې مې تیره شوه ع. چی راشه عبدالله ته زنګ ووهه عبدالله زما یو داسې ملګري وو. چی د ژوند ټول رازونه مې ورسره شریک کړی وو. هر وحت به مو سره ډیرې ټوکې ګپ شپ لګولو. هغه زمونږ خپلوان هم و. ګاونډي مو هم و او ښه ملګري مې هم و. دهغه نمبر مې یادو یاد وو د هغه نمبر ته مې زنګ ووهلو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهیدم. چي تلیفون به اوچت کړی. که څنګه. خو چې زنګ یی اوچت کړ.
ما پوښتنه وکړه.
عبدالله یی?
هو عبدالله یم. ته څوک یی?
زما نمبر نا اشنا و ویی نه پیژنده. ماویل ګلاب یم...
په ډېر ورخطا یی وویل. ته ګلابه دا چیرته دی ځان ورک کړي?
څنګه یی ښه یی؟
چیرته یی تاپسی خو په ګرځیدلو ستا کورنۍ او دوستان ستړی شول، زه هم
درپسی ډیر وګرځیدم ته چیرته یی؟
ته دومره بی غوره سړی یی . نه دی څوک خبر کړی ؛ چی زه په فلانکی ځای
کی یم .
مړی او ژوندی دی ورک دی . ظالمه د مور او پلار د حاله دی خبر یی . چی
په څه حال پری تیر شوی ..
ته خو دیر غلی وی تا څنګه داسی کار وکړه چی نه دی پلار نوم ته وکتل نه
دی د نیکه نوم ته وکتل نه دی د پښتنو تولنـــی ته وکتل ..
پلار دی خپل ټول جایداد خــرڅ کړ د هغو خلګــو بد یی هم ورکړل چی تا یی
لور تښتولي وه ..
د هغی خلګو په کور کی ستاا تصویرونه وو. هغی خلګوو دی د پلار سره ډیر
زیاتــی وکړ پلار دی ډیــر قرضدار شــوی دی..
مور دی دماغــی تکلیف پیداکړ.چی ګلاپ سنګه بی پښــتو کار کړی هر
وخت یی همدا چغــی وهلی خدایه ! ګلاب به چیرته وی مړ به وی که ژوندی؟
مور دی زیات داروګــان وخوړل.
خو اوس لږه ښه شوی ده
ډاکټرانو ویلی چی سوچونو ته یی مه پریږدی.
پلار دی څه نا څه پام غلط دی ..
خو مور دی کله کله یادوی او ژاړی.
هغــی حبری کولی ماورته غوږ نیولی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خبروو توان می نه درلود چی د عبدالله سره سوال او جواب وکم
زړه می نه تینګیده ښه می وژړل .
سوچونه می رانه ګرچاپیره ناست وو
یو خوایی ..
هم نه پریښودم دا به سنګه وزغمم
چی زماا مور دی زماا د لاسه په عصبی تکلیف اخته سی.
په همدی سوچ کی ښه غرق تللی ووم اوښکی می په مخ روانـــی وی
یوو ناڅاپه می چیغه کړه..
هی موری ته څومره مهربانه یی چی اوس هم ماپسی خفه یی.....
ما څه پټ په تاسو پریښود، ما غوښتل چی تاسو ده ځان سره په غم کی شریک نه کړم
تاسو هو زما نه ډیر په غم اخته شوی تاسو ته دا چا ویلی چی دا ده تنها سره تللی دی تنها تا ولی زما تصویرونه په کور کی پریښوده
ډیر په بی صبری می پر مخ اوښکی راروانی وی هیڅ می نشوه کولی چی اوښکی په خپل واک کی کړم څه ناڅه ورسته می زړه ډاډه شوی او ښکی می چی وچی شوی روان شوم هلته یو بمبه وه په هغی می مخ او لاس پریمنځو، په ډبه کی وختم او په سټاف می تری کوز شوم زړه می ډیر درزیده چ عبدالله ته می خال اوویل چی پیښور کی یم چی هر سومره فکر بل ترف ته کړم پلار او مور می له سوچه نه وځی په خپل پالنګ کی پریوتم له سترګو می اوښکی بهیدلی چی ده تنها یو یو عږ می اورده چی هغی په هغه بله کوټه کی ده حپل ځوی سره په رږزانګو کی زمزمه کوله چی اللو اللو اللو اللو اللو اللو،
هو په ده مور او پلار سوچونو سم زور راباندی کړی وه پدی وخت تنها زما خوا له راغله خوشخاله ښکاریدت زما نه یی پښتنه وکړه:
هسی ما ورته وه ویل چی نن رخصتی وه خو لږ ورسته عبدالله بیا زما موبایل ته زنګ راووهلو یو شیبه می زنګ نه اوچتولو خو پر له پسی زنګونو ورسته می زنګ اوچت کړو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه یی عبدالله وحتی زما په موبایل کی پیسی حتمی شوی. ځکه حبری قطع شوی ښه اوس وایه،حبره داسی ده چی دلته حو په اول کی چا یو څه ویلی او چا بل څه چا به ویل چی علو ډاکوانو تښتولی چا به ویل دپلار سره یی جنګ کړی تښتیدلی او مور به یی ویل نه علو او نه ډاکوانو تښتولی او یا هم لیوانو خوړلی دی ځکه چی دشپی ناوحته له کور څحه راوتی دی حو وروسته ستا تصویرونه بیا د هعه پلانکی سړی په کور کی راووتل چی دهعه لور هم په هماعه شپه له کوره وتلی وه بیا ټولو ته پته ولګیده چی دنجلی سره تښتیدلی دی تنها هم دا حبری واوریدی رشتیا هم زما تصویرونه دتنها په کور کی پاتی شوی وه عبدالله راته ویلی څه کار کوی او په کومه علاقه اوسیږی ماورته وویل زما مور او پلار حو به دی نه وی حبر کړی نه تر اوسه می ندی حبر کړی ستاسو کورته پسی لاړم چی زیری ورکړم تسلی ورکړم حو پلار دی مور ډاکتر ته بولی وه ښه اوس حپلی حبری وکړه ما ورته ویلی زموږ باع شته دی هو باع مو شته دی حو کاکا دی دپلار نه په پیسو کی ګرو کړی دی پلار دی ډیر حفه دی تا حو دپلار هستی نیستی له سره جار کړه پنځه میاشتی یی د هعه حلکو سره دعوه وچلوه زړه می کلک کړ د عبدالله سره می په ټولو حبرو ځان پوه کړ نور می موبایل بند کړ حو تنها زموږ په ټوله کیسه پوه شوه ؛ ما او تنها ډیر سخت ژړل چې هغې زمونږ د کور احوال واخیستو ،زما پلار ته خاص زما د تصویرونو له لاسه چې د تنها سره په کور کې پاتې شوي وو،دومره غټه لانجه ترې جوړه شوي وه. تنها هم په دې پوه شوه چې زما نه خو تصویرونه په کور کې پاتې شوي وو، او ټول کار د تصویرونو نه ورته جوړ شویده،خو ما ورته ویلي ځه غم مکوه،مونږ هسې نه هم راغلی یو ځه ښه دی چې نور سه بدي زمونږ او تاسو د پلارونو ترمنځ نده جوړه شوي،د تاوان خبره ده هیڅ کیسه کې مه اوسه خو په زړه کې ډیر خفه وم، زما تنخا هم ډیره وه او خرچه مو کمه وه درې درې نیم کاله چې ته پیسې جمعه کړی هم ډیرې پیسې کیږي یو څو روپۍ مې ترې ځانته د خرچې لپاره پریښودلې نورې مې ټولې رواخستې غوښتل مې چې وطن ته یې د پلار لپاره ولیږم، چې د تره قرض مې هم خلاص کړي،او نور ژوند هم پرې ښه کړي سوچ مې کولو چې اوس په سه طریقه دا پیسې ولیږم، هیڅ موقع نه پیدا کیده د ځان سره مې فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ چې عبدالله ته به زنګ وکړم چې طورخم پورې راشي زه به د طورخم پورې پیسې وروړم همدا فیصله مې غوره وګڼله، عبدالله ته مې زنګ وواهه چې تر طورخم پورې راتلی شي چې زه درشم سه کار درسره لرم عبدالله ویلي هو هملته پاکستان ته هم درځم، ته خالي ځای وښایه ما ورته ویلي ښه بیا زنګ درته وهم، ددې نه هم ویرېږم چې عبدالله ما پسې لار و نه څاري او زما کور او ځای و نه ګوري ما هملته و نه نیسي او ...
کورته، مي رانه ولي، تنهابه دلته ځانته پاتي وي، ددي خبرونه و ویر یدم ،یوه لاره هم ند کید، موبایل مې ددې دخطره بندکړ، چې هسي نه عبدالله مې پلار خبر کړی وي او زنګ را ونه وهي، نه به بیا ورسره خبری کولی شم اونه به زنګ قطه کولی شم بیرته مې دځان سره وویلی څه هغوي دي خدای هلته خوشحاله لري، مونږ دي خدای (ج) دلته خوشحاله لري،بیرته مې تولي پېسې په ځان کړي خدای ( ج) ته به صبر کوو، په همدي تریخ ژوند ورځ دجمعي ورځ وه کار رخصت وو. ما غوښتل چې تنها عدنان چی زمونږ کوچنی زوی وو، د دوی سره یو ځای چکر ته لاړ شم چی دا زړه می لږ ازاد شی راغلم یو ټیکسی می را روانه کړه، چی چکر ته پکی لاړ شو، تنها زه او عدنان مو هم د ځان سره را روان کړ، ډریور ته می ویلی زه بلدی نه یم خو چرته مو یو ښه ځای ته چکر ته بوځه ، ډریور ویلی ښه راځه بی غمه شه.
ښه ځای ته مو چکر ته بیا یم، خدای خبر چیرته یی بیولو ، ډریور ډیر بی رقمه تیزروان وو، ما او تنها سره مرکه کوله خدای (ج) د کارونو نه څوک څه خبر دی، خو ما به ډریور ته کله کله ویلی استاذه لږ په مزه ځه ډیر بی خونده روان یی، لږه ګذاره کوه، ډریور به یواځی همدا یوه خبره کوله هیڅ خبره نشته.
ما به بیرته خپله مرکه د تنها سره شروع کړه د یو څه وخت مزل وروسته زمونږ موټر یو بل موټر نه مخکی کیده،
مخامخ ورباندی یو غټ موټر راغلو چی زمونږ ډریور وراخطا شو، او ویي ویل.
دانه ښه کیږی .. زړه یی زربه خوړلی ده یو ګینټه وروسته یې اپریشن کوو، چی هر رقم شوه ډاګټر ته می وویل ډاکټر صاحب که هر څه چاره یې کیږی ویی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه، چی هر څومره پسی پری لګیږی زه یی درته راوړلی شم خو دتنها علاج ضرور وکړه تنها زما په بدن کی روح دی که تنها نه یی زه به لیونی شم زه به د دی دنیا دا ټوله زندګی د تنها په سر قربان کړم تری ماذیګر تنها اه ونه کړ ساعت پوره شو تنها یی په تذکر کی واچوله اپریشن ټیټر ته یی ننویسته ښځی ډاګټرانی او نرسانی تری چاپیره شوې بی هوشی یی ورکړه څه سیرومان او نوره دوا یې په ما روا اوغوښته دوایی می رواړوه څه ستنی یی ورته وکړی زه یی دا اپریشن د خونی نه را وویستم په د هلیز کی می د انتظار ترخی شیبی تیرولی تنها چی راباندی د دی نه مخکی کوم خط لیکلی و همدا می مخی ته نیولی و هماغه نرسه چی په ما او تنها به یی ډیر پام کولو راغله خط زما اوښکو لوند خیشت و زما دلاسه یی خط واخستو چی خط یی ولوستو
زمونږ په کیسه څه ناڅه پوهه شوه خو هغی هم په سترګو اوښکی را روانی وی ډیره خفه شوه هغه هم د دوه نابلده مسافرو په راز څه ناڅه پوهه شوه هغه هم روانه شوه د اپربشن خونی ته دا هم ورغله شیبه په شیبه به همدی نرسی چی کلثوم نومیده ماته به یی معلومات راکول زړه به می یی ډاډه کولو پینځه شپږه ګینټی [ساعت] تیر شول چی غم لړلی زیری راباندی وشو د تنها د مرګ زیری تنها مړه شوه هملته می د پښونه روح ووت په هماغه دهلیز کې ولویدم چغی می وهلی زما چغی به څوک ودروی بی صبر چغی وهم په یو رقم می زړه نه صبریده روان شوم هماغی خونې ته چی تنها پکی مړه پرته وه ډاګټرانو نه پریښودم خو چی زما دا بی صبره چغی یې واړریدلی زه یې پریښودم د تنها سره په هماغه چپرګټ ورځملاستم ، وه تنها ته خو زما د ژوند یواځینی ملګری وی ته هم رانه جدا شوی زما خو نور هیڅوک نشته زه به څنګه بی له تا ژوند تیروم ډاګټرانو به تسلی راکوله خو ما هیڅ نه منله یواځی همدا یوه چغه می وهله چی تنها، وه تنها زه او ته خو [دوه نابلده مسافر] وه تا ولی زه د ژوند په نیمه لار کې ځانته پریښودم تنها هیڅ هم نه ویلی ځکه هغه خو مړه وه ډاګټران لاړل د تنها د دفن کفن لپاره یی د هماغی ځای کمیټه راولیږله ما تنها ته ډیره بی صبره ژړا کوله ښځی راغلی تنها یی د چپرګټ نه تذکره کی واچوله زه کلک د تذکری پوری نښتی وم نه می پریښودله چی لاړ شې یو څو سړی راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه يې راجګ کړم، تنها يې ويوړه مرده خاني ته، زه همځته بې صده پريوتم يو څه وخت تير شو ژړا مې څه ناڅه کراره شوه، سلګۍ مې وهلې، چې لاړم تنها ته يې هرڅه برابر کړې وو، کفن کې يې تاوه کړي وه، تابوت کې يې اچولې وه، که رښتيا ووايم د تنها مړې ډير ښه ښکاريده، ماته يې اواز کړ، راغلم د همدې هسپتال امبولانس ودريد، تنها مو پکې واچوله زه مخکې کيناستم هغه نرسه چې په ما او تنها به يې ډير پام کولو هغه بيچاره هم د تنها د مړي سره کيناسته، ما ډريور نه پوښتنه وکړه هديره چيرته ده همځته يې يوسئ
ډريور ويلې ولې په کورکې خپلوان نور څوګ ..؟؟ ما ويل، مونږ دوه نابلده مسافر وو، هيڅوګ هم نه لرو، بغير د خداى (ج) نه دوه پر دوه يو ډريور ډير خفه شو. ما وړې وړې سلګۍ وهلې کله چې هديرې ته ورسيدو يو څو کارګر مو راوستل، چې قبر ووهى. مونږ يو څو نفروو د جنازې مراسم ونيول، يو څو لاروي هم راغلل جنازه مو وکړه، نور مې دى امبولانس والاته رخصت ورکړ، د نرسي زړه نه کيده، چې لاړه شي، خو هغې هم مسؤليت لرلو هغوى لاړل، زه او يو څو نفر همدلته ناست وو، د مړي سره يو څه وخت وروروسته قبر تيارشو، تنها مو پکې ورکيښودله، زما زړه به څنګه اوس صبر وکړي چې تنها دې ښخيږى او زه دې ورته ولاړ يم.
ژړا مې زوروره شوه په سپيرو خاورو کې پرېوتم، ټولو مړى پريښود، زما نه ګرچاپيره تاوشول، څه وخت وروروسته قبر کى څملاستم خلکو ته مې په زوره چغى وهلى ما هم ورسره ښخ کړى زما تنها په دى سپېرو خاورو کى يوازى مه پريږدى مونږ دواړه بايد يو ځاى خاورى شو .
خو هيڅا هم داسى نه کول، زه يى په کشولو کشولو د قبر نه راجګ کړم ټولو راباندى د ليونى ګمان کولو، دخلکو يو بل ته ويلى ليونى دى ،په تنها يى زر زر خاورى واړولى ،هيڅ مى هم دلاسه نه کيدا، د خداى کارونه وو په زوره زوره چغى مى وهلى ، چى ماهم ورسره ښخ کړى ' خلکو کلک نيولى وم، په تنها يى د سپيرو خاورو قبر جوړ کړ، کارګرو ته مى د جيب نه پيسى ورخطا کړى. هيڅا پيسى نه اخيستى پيسى مى ورته همځته پريښودى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په قبر د پاسه پریوتم سترګی می نه وچیدی. ځان سره می پریکړه وکړه چی همدا می عمری ځای شو، شپه او ورځ به همدلته د تنها د قبر دپاسه پروت وم ، یوه شپه می ډیر په تیزه تیزه ژړل د کلی خلک راپسی راغلل، په زوره یی موټرکی واچولم د لیونیانو هسپتال وو،هلته یی بوتلم، ورته یی وویل دا لیونی دی، زه په ربښتیا هم دلیونو بدتر وم کالی می په سپیرو خاورو لت پت ویښتان می ببر تنې شلیدلی په مخ می د اوښکو تور داغونه په بد حال وم، هلته ډاکترانو رانه پوښنی کولی زما زړه نه ټینګیدو په زوره زوره می ورته ژړل اخر ډیر مجبور شوم ډاکټر ته می خپل ټول حال بیان کړ....

ډاکټر ډیر زړه خوږی وه، دلاسه یی ونیوم د اوبو بمبی ته یی ودرولم، مخ او لاس می ومینځل په ویښتانو می لوند لاس راکش کړ، رنګ می دلوړی او تندی دلاسه ژیړ تښتیدلی و، ډاکټر خادم ته غږ، خادم چی راغللو، !!

ډاکټر ورته پیسي ورکري چي څه خوراکي څیزونه راوړه د شپي ډیر ناوخته وو• د کلي خلک بیرته تللی وو ډاکټر څیزونه زما مخي ته کیښودل داوخوره زه ښه وړ.ي وم خو دي. تنها غم نه پریښودم چي ویی خورم خو اوشا څلور ورځي ما هیڅ هم نه وو خوړلي کیک او شودي مي ډاکټر سره وخوړل ډاکټر غوښتل چی شپه همدلته وکړم شپه. مي په ډیر زحمت سره تیره کړه چی سهار ملا اذان وکړ روان شوم خپل کور ته ورسیدم دکور دروازه بند وه د قلف چابي رانه ور که شوي وه قلف مي مات کر کور ته چی دننه شوم د کور دیوالونو د بلاګانو په څیر خولي لګولی دیوالونو ویل ولې یوازي راغلي ولي دی تنها د ځانه سره نه ده راوستي نیر.دي وه چي د کور دیوالونه کی وخوري په کی می وخت نه تیریده ژر ژر می چي څه پیسي وي تولي می را واخستي د جماعت هماغه ملا ته مي ورکړي چي زما او تنها نکاح یي تړلي وه هغه ته مي ویلي پدي پیسو به خیرات وکړي د تنها پسي بیرته راروان شوم لا لمر نه وو راختلي چي راغلم هغه رهنما ته چی مونږ. تري کور په کرایه نیولي و رهنما بنده وه په لوحه باندی یي د موبآیل نمبر لیکلي و هغه نمبر مي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپل موبآیل کی ووهلو سړي چي خبري شروع کړي ته څوک یي زه ګلاب یم
ستا نه چی مي کور نیولي و په ګلاباد کالونی کي سړي ویلي ښه ښه ذهن ته مي
راغلي څه خدمت دي
ما ورته ویلی هغه کور ته می کلف واچولو زمونږ سامان هرسه پکی پراته دی
هغه به هم کم غریب سړی ته ورکړی چاپی می درته د دروازی په سوری کی
خطا کړه نور زمونږ دخوانه هغه کور درپاتی شوو کور دی ودان بچی دی لوی
نور می مبایل بند که هغه سړی زنګونه راوهل خو نه می اوچتول مبایل می بند
که په منډه منډه لاړم دتنها قبر ته می په سپیرو خاورو کی سملاستم یو سه می
حوصله خه شوی وه دتنها وصیت پاڼه می مخی ته نیولی وه او دسترګو نه می
پری اوښکی بهیدلی  غوختل می داخط چی دتنها له خوانه دهغوی کورنی ته
وسپارم یوه شیبه می دتنها په قبر وژړل بیرته راغلم یو جوړ کالی می تیار
واخیستل کالی می بدل کړل راروان شوم افغانستان ته جلال اباد ته چی کله
راورسیدم نور پیاده راروان شوم ځکه چی کوم بلدی راسره مخ نشی یا په موټر
کی او یا په هډه کی می ونه ګوری همداسی نژدی نژدی دتنها دوی کلی ته
راورسیدم دځان سره کی فکر وکه چی داخط سرکم دتنها دوی کور ته وسپارم
اوس خو داسی هر چا نه پیژندلم او نه هغه پخوانی ګلاب اووم ببر سر اوږد ږیره
یو وړ تشمکی می په سترګو دتنها دوی په دکور په طرف روان شووم کوڅه کی
روان اووم دتنها دوی کور سره ماشومان ولاړ ول یو غټ ماشوم چی په خبره
پوهیده ترینه می پوختنه وکړه چی دچا ځوی یی دتنها دپلار نوم ی راته واښسته
خط می ورته ور کړ نور همغسی دتنها دوی دکور په اړخی ته دخوړ په غاړه
خکته شووم
خوړ ته کوز شوم، بیرته تیز ښکته رارون شوم مازیګر اذانونه کیدل، چې د
سراچې پول همداسې پای وروسیدم، د یو موټر په ډاله کې وختم  طور خم ته لاړم
د ماښام اذانونه کیدل چې په طور خم واوښتم هلته مې یو موټر دربس ونیو نیغ
لاړم د تنها قبر ته په قبر ورولویدم په چغو چغو مې وژړل
په ژړا ژړا کې مې په تنها چغې وهلې
تنها پاڅه چې زه ستاسو کلی ته تللی وم ستاسو د کور په مخ تیر شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅه تنها زه نن هغه خوږ ته تللی وم چې زما او ستا لومړی ځل لیده پکې شوی وو خو تنها هیڅ نه ویلې اوس نو لکه ملنګ همدلته په قبر ټوله شپه او ورځ ناست په چـغو چـغو ژاړم او دا وایم چې ولې په دې دومره لویه ځمکه د دوو نابلده مسافرو ځای نه و ولی موږ سره دومره ژر جدا شو تنها ته به مې ویل چې ته دومره یواځې خوښه وی نو بیا دې زه ولې له ځانه سره ملګرې کړم او ولې دې اوس پریښودم
خو اوس دوه نابلده مسافر د ټول عمر لپاره جدا شوي وو یوازې زه وم چې خپلې تنها په نازک بدن پرتو سپېرو خاورو ته مې وژړل.

پای

یادونه: که غواړی چی پښتو غوره ناولونه او کتابونه په Pdf بڼه ترلاسه کړي نو زموږ د ټلیګرام چینل (پښتو ناولونه.!📚) تعقیب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ناولونه

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**